# آدولف هتلر

لیکوال: برندا هاوګن
ژباړن: حزب الله اتل



www.baawar.org
www.bawarketabtoon.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# آدولف هټلر

## د نازي جرمني دیکتاتور

لیکوال: **برندا هاوګن**

ژباړن: **حزب الله اتل**

ډیزاین: **سپین سهار**

خپرندوی: **اکسوس کتابپلورنځی**

چاپ کال: **۱۳۹۵ل/ ۲۰۱٦ز**

چاپځی: **وایګل مطبعه**

ISBN 9789936626157

Aksos

اکسوس کتاب پلورنځی

**پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ**

**تلیفون شمېرې: ۲۰۲۵۰۴٦۵۲ (۰) ۹۳ + \ ۷۹۸۹۸۹٦۹٦ (۰) ۹۳ +**

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

F/aksos book store

ددغه کتاب د چاپ حق له خپرندوی سره خوندي دی.

Scanned by CamScanner

# معاصره نړۍ

له ۱۹۰۰ز کال راهیسې تر ننه په نړۍ او بشریت کې لوی تغیرات راغلي. په دې دوره کې نوي سیاسي باورونه د نړیوالو جګړو د رامنځته کېدو لامل شول. فاشېزم او کمونېزم د یو شمېر هېوادونو د پاشل کېدو او ډیموکراسي د یو شمېر نورو هېوادونو د یو ځای کېدو لامل شوه. دغو بنسټیزو تغیراتو په نظریو او عمل کې فردي ازادۍ، مذهبي رسم و رواج، علم، پرمختګ او صنعت ته لاره پرانسته. دې تغیراتو نړیوال سیاستونه او د نړیوالو اړیکو درک حتمي کړ. د معاصرې نړۍ فکري فضا پر دې باور ولاړه ده، چې نړیوال اقتصاد تر بل هر وخت یو بل سره ډېر نږدې کړي دي.



Scanned by CamScanner

# نیولیک


سریزه........................................................................ ۷
۱ څپرکی ........................................................................ ۹
د نړۍ پر مخ ........................................................................ ۹
۲ څپرکی ........................................................................ ۱۷
غوسه کېدل........................................................................ ۱۷
۳ څپرکی ........................................................................ ۲۳
په 'وین' کې ناکامي........................................................................ ۲۳
۴ څپرکی ........................................................................ ۲۹
جرمنی سرتېری ........................................................................ ۲۹
۵ څپرکی ........................................................................ ۳۷
سیاست ته داخلېدل ........................................................................ ۳۷
۶ څپرکی ........................................................................ ۴۹
واک ته رسېدل........................................................................ ۴۹
۷ څپرکی ........................................................................ ۵۷
د جرمني دیکتاتور ........................................................................ ۵۷
۸ څپرکی ........................................................................ ۶۹
له نړۍ سره جګړه........................................................................ ۶۹
۹ څپرکی ........................................................................ ۷۷
د ماتې پر لور ........................................................................ ۷۷
۱۰ څپرکی ........................................................................ ۸۳
مرګ یا زندان ........................................................................ ۸۳
د آدولف هتلر ژوند ........................................................................ ۹۰
۱۹۰۰ ز کلونه........................................................................ ۹۰
۱۹۱۰ ز کلونه........................................................................ ۹۰
۱۹۱۵ ز کلونه........................................................................ ۹۱
۱۹۳۵ ز کلونه........................................................................ ۹۲
۱۹۴۰ ز کلونه........................................................................ ۹۲


Scanned by CamScanner

# سریزه

د یوه 'دیکتاتور' د ژوند داستان، د هټلر له ژوند سره تړلی تاریخ او د نازي جرمني د ویاړ او ذلت ورځې، د هټلر د تبعیضي چلند لامل او د یهودانو د نسل وژنې مستندې پېښې؛ ټولې ددې کتاب محتوا جوړوي.
یو دیکتاتور څه ډول ټولې نړۍ ته ور غاړې وت او په دویمه نړیواله جګړه کې یو پوځي قوماندان په څومره ناهیلۍ له خپلې ماتې د تېښتې لپاره ځانوژنه وکړه؟
'آدولف هټلر' د جرمني د تاریخ لویه برخه ده، دا کتاب له هغو نا ویلو پرده پورته کوي، چې ښایي تر اوسه مو بل ځای نه وي لوستي.
د شلمې او یوویشتمې پېړۍ د بدبختیو د عطف یو ټکی دا دی، چې د زمانې 'دیکتاتوران' څه ډول د خپلو ناروا ګټو لپاره له ولسونو قرباني اخلي؟
د معاصر دور د 'دیکتاتورانو' چلند له درېیمې نړۍ سره کټ مټ لکه د پخوا په څېر دی. نن به ابزار بدل وي، خو اهداف هماغه دي!!

حزب الله اتل

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۱ څپرکی

# د نړۍ پر مخ

په ۱۹۳٦ ز کال کې د نړۍ پام جرمني ته واوښت. د جرمني پلازمېنه برلېن د اوړي او ژمنیو المپیک لوبو کوربه و، خو د جرمني لومړی وزیر آدولف هټلر ددې لوبو ډېر شوقي نه و. نړیوالې سیالۍ یوازې ددې لامل ګرځېدې، چې پاک نژاده، ښکلي او شین سترګي ـ د هټلر په وینا آریایان ـ جرمنیان له هغو کسانو سره یو ځای شي، چې د هغه له نظره د نړۍ تر ټولو پست او وروسته پاتې خلک وو.
د هغه د اطلاعاتو وزیر جوزف ګوبلز استدلال کاوه، چې د المپیک لوبې د جرمني لپاره د نړۍ په کچه یو مناسب فرصت برابروي. هغه ویل؛ دغه سیالۍ به نړۍ ته وښیي، چې د آریایي ورزشکارانو د لوړوالي په اړه د هټلر نظر پر ځای دی او د جرمني عظمت به ثابت کړي. ټاکل شوې وه دغه سیالۍ په لومړي وار د جرمني په نړیوال ټلویزیون هم خپرې شي.

Scanned by CamScanner

په دې سره ددې سیالیو د لیدونکو شمېر څو برابره کېده. ټاکل شوې وه په ټول ښار کې د سینما او تیاتر پر پردو دغه لوبې وښودل شي، څو هېوادوال یې په هر ځای کې په وړیا ډول ننداره کړای شي. هټلر پوره خاطر جمع و.

د یوه لوی سټېډیم د ښکلي کولو چارې پیل شوې، چې په یوه وخت په کې سل زره کسان ځاییدل. هټلر ویل: ((که چېرې جرمني د ټولې نړۍ کوربه هم شي، دغه هېواد به یې په پوره عزت او درناوي هرکلی وکړي.))

که څه هم هټلر ته پوره ډاډ ورکړل شوی و، چې دغه سیالۍ به په جرمني کې ترسره کېږي او نور ډاډ ته اړتیا نه وه، خو په واقعیت کې یو شمېر کسانو مخالفت کاوه. د المپیک نړیوالې کمېټې واک ته د هټلر له رسېدو وړاندې په ۱۹۳۱ ز کال کې پرېکړه کړې وه، چې برلېن به د دغو لوبو راتلونکی کوربه وي. هغه مهال په جرمني کې وضعیت بل ډول وو.

کله چې د ۱۹۳۳ ز کال د جنوري پر دېرشمه هټلر د جرمني لومړی وزیر -یعنې دویم لوړ پوړی چارواکی -شو، نو له یوې مخې یې پر لویو تغیراتو پیل وکړ. هغه اساسي مدني حقونه لکه د بیان او مطبوعاتو ازادي ټول له منځه یوړل. په مارچ میاشت کې د جرمني په سویل کې په داخائو سیمه کې د سیاسي بندیانو لومړنی کمپ جوړ شو. دغه کمپ په لومړیو کې د هټلر د نظر مخالفینو لپاره ځانګړی شوی و. وروسته په ځانګړي ډول یهودان له ټولنې جلا کړل شول، وربېرول شول او په دغه کمپ کې بند کړای شول. له کمپ بهر هم یهودان په نورو ډولونو تر دې زیات ځورول کېدل لکه له کار څخه محرومول، له دندو اېستل او د ښاروندۍ له حقونو محرومېدل. د المپیک له سیالیو وړاندې په داخائو کې له اویاوو زیات بندیان ووژل شول؛ تقریباً په هره میاشت کې دوه بندیان.

د نورو هېوادونو خلک له دې وضعیت څخه خبر و، ډېری کسانو هڅه

وکړه، چې هېوادونه يې د المپيک دغه لوبې تحريم کړي. سره له دې ټولو د پخواني پلان په اساس د ۴۹ هېوادونو ترمنځ - چې بې جوړې بلل کېدل - سيالۍ ترسره شوې. د امريکا متحده ايالتونه هم ددې هېوادونو يو و او ورپسې جرمني لوی ټيم درلود.

نړۍ غوښتل وګوري چې هټلر دغه سيالۍ څه ډول مديريت کوي؟ آيا د جرمني په ټيم کې به کوم يهودي ته هم ځای ورکړل شي؟ په دې وختونو کې د جرمني يهودان په پلورنځيو، رسټورانټونو، حوزونو، ورزشي کلپونو، د سکي لوبو مرکزونو، سواحلو او يو شمېر نورو ځايونو کې منع اعلان شوي وو. نړۍ غوښتل وګوري، چې د نړۍ له نورو ورزشکارانو سره څه ډول چلند کېږي؟ د امريکا په ټيم کې اتلس تور پوستي ورزشکاران وو، چې هټلر هغوی لکه د يهودانو په څېر د نورو انسانانو منندوی ګڼل.




هغه لوحې چې د يهودانو پرضد شعارونه په کې ليکل شوي و او پر لويو لارو لګول شوې وې.

دا واضحه ده، چې په ټول جرمني کې د یهودانو لپاره قوانین متفاوت وو. له یهودانو سره تعصب روا بلل کېده. په لویو لارو کې پر نصب شویو لوحو کې به یهودانو ته سپکوونکې او رټل کېدونکې جملې لیکل شوې وې او هغوی یې له سوداګرۍ منع کړي وو. د المپیک نړیوالې کمېټې مسوولانو غوښتل د لوبو پر مهال دغه لوحې له لویو لارو لرې شي، څو نور خلک یې ونه ویني. په لومړیو کې هټلر ددې لوحو له لرې کولو سره مخالفت وښود او ویل یې، چې جرمنیان حق لري خپل احساسات څرګند کړي. خو وروسته د المپیک کمېټې غوږ شرط کېښود، چې یا به لوحې لرې کېږي یا به سیالۍ لغوه کېږي. هټلر دلته ماتې وخوړه.

هټلر حکم وکړ، چې له ټولو لویو لارو دې د یهودانو سپکوونکې لوحې لرې شي او په دې توګه ډېرې کسان ددې سیالیو لیدو ته جرمني ته راغلل. د سیالیو له پیلېدو سره په برلین کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته شوه او د المپیک بیرغونه د ښار په څنډو او ودانیو راوځړول شول. د موسیقۍ لوی ګروپ ورزشي لوبغالي ته د هټلر د راتګ هرکلی وکړ او د جرمني خلکو یې هم استقبال وکړ. د هغه پر لوري د خپلو لاسونو د غځولو په اشاره یو غږ پورته شو، چې: هایل هټلر! (هټلر زنده باد!)

که څه هم جرمني تر نورو هېوادونو په دې سیالۍ کې ډېر مډالونه واخستل، خو د لوبو اتل بیا جسي اوونز شو. دغه تور پوستي امریکایي لوبغاړي د سرو زرو څلور مډالونه واخستل. د اوونز په بریالیتوب پسې نور تور پوستي لوبغاړي هم د اتلولۍ لېواله و، خو هټلر د جرمني د ځوانانو سازمان رییس بالدور فون شیراخ ته وویل: ((امریکایان باید شرم وکړي، چې تور پوستو کاکاګانو یې ورته مډالونه وګټل!))

په لومړیو کې به هټلر د سیالیو بریالي کېدونکو لوبغاړو ته لاس ورکاوه، خو له اوونز سره له لیدو یې ډډه وکړه. کله چې هټلر ته وویل شول، چې

يا بايد ټولو ګټونکو ته لاس ورکړي يا يوه ته هم لاس ور نه کړي، هغه دويم وړانديز انتخاب کړ. هغه له فون شيراخ څخه وپوښتل: ((آيا واقعاً ته فکر کوې زه پرېږدم، چې يوه تور پوستي کاکا سره د لاس ورکولو پر مهال دې زما تصوير واخستل شي؟))

Scanned by CamScanner



د المپیک لوبو یوه ځنډه، ۱۹۳٦ ز کال

د آماتورو ورزشکارانو د ټولنې رییس جریمایا ماهوني هڅه وکړه د امریکا متحده ایالتونه اړ کړي، چې پر جرمني د یهودانو د ځورونې په اړه فشار راوړي. هغه غوښتل د امریکا د المپیک ټیم په ۱۹۳٦ ز کال کې برلین تحریم کړي. خو د امریکا د المپیک کمېټې رییس ایوري براندیج له دې نظر سره مخالف و او ویل یې، چې سیاست په هیڅ صورت ورزش سره نه شي ګډېدای. بالاخره براندیج بریالی شو او امریکا په المپیک لوبو کې ګډون وکړ.

Scanned by CamScanner

د هټلر له چلند سره، سره په جرمني کې د المپیک لوبو د نړۍ په کچه جرمني ته پام زيات کړ. جرمني ځان د یوه دوست او پر ځان بسيا هېواد په توګه وښود. د همدې کال په اګست کې ویلیام شاپرر بهرني خبریال پخپلو خاطرو کې لیکلي:

((زه له دې وېرېږم، چې نازیان پخپلو سیاسي تبلیغاتو کې بریالي شوي نه وي. لومړی دا چې دا وار سیالۍ په داسې ډول ترسره شوې، چې تر دې وړاندې نه وې ترسره شوې. دا کار د ورزشي اتلانو د خوښې وړ وو. دویم دا چې؛ په مجموعي ډول نازیانو په ځانګړي ډول لوی سوداګرو په دې سیالیو کې پراخ ګډون درلود.))

د سیالیو پر مهال د جرمني یهودان د یو څه مودې لپاره له ځورولو خلاص و، خو کله چې دغه سیالۍ پای ته ورسېدې سوله او ارامي هم پای ته ورسېده. سمدستي چې سیالۍ پای ته ورسېدې د المپیک د یوې ځانګې یهود رییس سروان ولفګانګ فورستنر په پوځ کې له خدمت کولو ګوښه کړای شو. فورستنر یوه ورځ وروسته ځانوژنه وکړه. ګرټل برګمان یوه بله یهودۍ مېرمن چې وړاندې یې د المپیک په ټیم کې د جرمني لپاره مډال ګټلی و، له ټیم څخه واېستل شوه. برګمان په ۱۹۳۷ ز کال کې خپل پلرنی ټاټوبی پرېښود او له ځورونې د خوندیتوب لپاره امریکا ته کډواله شوه.

د برګمان په څېر ډېری نور یهودان هم تر سیالیو وروسته نورو هېوادونو ته وتښتېدل، خو ډېری نور یهودان بیا دومره خوشبخته نه وو. بالاخره له شپږو میلیونو زیات یهودان چې چوړاګیان، معلولین، روحي او جسمي ځورېدلي کسان ټول په کې شامل او هټلر د ژوند وړ نه بلل، د هغه په دیکتاتوره واکمنۍ کې په تاوتریخوالي قتل عام شول.

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۲ څپرکی

# غوسه کېدل

آدولف هټلر د ۱۸۸۹ ز کال د اپریل په شلمه د اتریش او جرمني ترمنځ د براوناو ام این سیند پر غاړه په یوه کوچني سرحدي ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانستې. د هغه کورنۍ او ان کورنی نوم هم جنجالي موضوع ده.



کلارا پولتسل هیټلر. د هټلر مور، ۱۸۶۰-۱۹۰۷ ز کال

Scanned by CamScanner

د آدولف هټلر (نیا) ماریا شیکلګروبر په ۱۸۳۷ ز کال کې په ۴۲ کلنۍ کې د آدولف پلار آلویس وزیږوه. پنځه کاله وروسته هغې د ګئورګ هیډلر په نوم یوه سړي سره واده وکړ. کله چې په ۱۸۴۹ ز کال کې ماریا ومړه، آلویس د هیډلر د ورور نیپوموک او د هغه کورنۍ ته ورغله. کله چې آولویس ۱۹ کلن شو، نو ګئورګ هم ومړ.

آلویس په ۳۹ کلنۍ کې پریکړه وکړه، چې ګئورګ هیډلر په سیمه ییزو اسنادو کې د خپل پلار په توګه ثبت کړي. په دې ترتیب آلویس شیکلګربرو رسماً په آلویس هټلر بدل شو. دغه نوم په جرمني ژبه کې کله نا کله په (هوټلر) هم لیکل شوی دی.



هټلر له خپل پلار (آلویس هټلر) سره.

Scanned by CamScanner

په دغه وخت کې آلويس چې د يو بوټ گنډونکي شاگرد و پرمختګ وکړ او په (اين) کې د برونا سمندرگي پر غاړه د اتريش ترمنځ د سوداګريزو راکړو ورکړو څارونکی شو. دغه مهال چې نوموړی ۴۷ کلن و او دوه پخوانۍ مېرمنې يې مړې شوې وې (کلارا پولتسل) سره چې شل کلنه وه او تر هغه شل کاله ځوانه وه، واده وکړ. کله چې هغوی دواړو په ۱۸۸۵ ز کال کې واده وکړ کلارا له وړاندې مېندواره وه.

کلارا او آلويس ډېر ژر د دوو ماشومانو مور و پلار شول. دريمی زوی يې له يو څو ورځو زيات ژوندی پاتې نشو. د دغه نو زېږي تر مرګ څو ورځې وروسته د هټلر کورنۍ له يوې بلې فاجعې سره مخ شوه. دوه ماشومان په يوه ميکروبي ناروغۍ چې (ديفتري) يې بلله اخته شول. دا يو هم له دې وژونکې ناروغۍ روغ ونه وت. کله چې کلارا خپل څلورم زوی (آدولف هټلر) د ۱۸۸۹ ز کال د اپريل په شلمه وزېږوه انديښمنه شوه، چې هسې نه دا زوی يې هم وژونکې ناروغۍ ترې مړ نه کړي. تل به آدولف ته انديښمنه وه. کلارا له آدولف سره ډېره مينه درلوده او د هغه ساتنې ته يې ډېر پام کاوه. سره له دې چې دوه نور اولادونه آډمونډ او پائولا هم پرې ډېر ګران وو. آلويس د آدولف په روزنه کې سختې راوړه او له هغه يې ډېرې هيلې درلودې. پائولا وروسته وليکل: ((يوازينی ورور مې آدولف و، چې هر وخت به يې زموږ پلار په غوسه کاوه او پوره حساب به يې نه ورکاوه، خو بل لور ته مو مور وه، چې هغه ته به يې ناز ورکاوه او هغه څه مې چې پلار په زور او غوسه نشواى ترلاسه کولاى، مور مې په مينه او مهربانۍ ترلاسه کول.))

آدولف په شپږ کلنۍ کې ښوونځی پيل کړ او معلومه شوه، چې هغه يو ځيرکه او لايق زده کوونکی دی. هغه له مطالعې سره مينه درلوده. د سور

Scanned by CamScanner

پوستو داستانونه یې ډېر خوښېدل. په ځانګړي ډول د نقاشۍ له هنر سره یې ډېره مینه درلوده. د تاریخ مضمون یې هم کنجکاوۍ ته یو څه ځواب وایه، خو د نوي تعلیمي کال تر پیل وړاندې یې پلار متقاعد شو او له کورنۍ سره یو ځای یې لئوندینګ کې یوې کوچنۍ کروندې ته کډه وکړه.

آلویس غوښتل آدولف یې پر پل قدم کېږدي او په اتریش کې د دولت کارکوونکی شي. آدولف دقیق نه پوهېده، چې غواړي څه جوړ شي، خو په دې پوهېده، چې نه غواړي د پلار په څېر د دولت کارکوونکی شي. آلویس لا هم د هغه تشویق ته دوام ورکړ. ددې لپاره، چې زوی یې له خپل کاره خوند واخلي هغه ته به یې کیسې کولې، خو آدولف دې کیسو ته چندانې غوږ نه اېښوده. آدولف وروسته ولیکل:

((زړه به مې تنګېده او خوله به مې وازه، وازه کېده. په دې به مې فکر کاوه، چې د دفتر کار کې د یو بندي په څېر کېنم. نور به زه د خپل ځان واک نه لرم او په زور به د خپل عمر یوه لویه برخه د سپینو پاڼو په تورولو تېروم؟!))

آدولف هیله درلوده، چې هنرمند شي، خو د هغه دې تصمیم به یې پلار په غوسه کاوه، خو آدولف په غبرګون کې وایي:

((پلار مې زه دومره منع کړی وم، چې ان د هنر په اړه مې یوه وړه هیله هم په زړه کې نشوای راګرځولی. ما یو قدم وړاندې واخست او ومې ویل، چې که چېرې داسې وي، نو زه له سره زده کړې نه کوم!))

هغه همدا کار وکړ، له ښوونځي په دولس کلنۍ کې د هغه رټل پیل شول او ښوونکو یې لامل نه همکاري وبلله. خو د آدولف وضاحت داسې وو:

(( هغه مهال یو څه چې ډېر واضح و هغه دا و، چې له ښوونکو سره مې همکاري نه درلوده، هر هغه څه چې راته په زړه پورې و هغه مې یادول،

په ځانګړي ډول هغه مسايل چې فکر مې کاوه وروسته د يوه نقاش په جوړېدو کې راسره مرسته کولای شي. څه به چې راته مهم ښکاره نه شول ځان به مې ترې څنډې ته کاوه.))

د آدولف پلار د ۱۹۰۳ ز کال د جنوري پر دريمه ومړ. آدولف چې دا مهال ديارلس کلن و د خپلې راتلونکې ټاکل کېدو په تړاو ازادي ترلاسه کړه. ښوونځي ته له تلو سره يې ډېر وخت په کور کې په مطالعه او نقاشۍ تېروه.



*هټلر د خپلو ټولګيوالو ترمنځ، هغه مهال چې په څلورم ټولګي کې و، ۱۸۹۹ز کال، له ښي لوري د لومړي قطار پنځم کس.*

په شپاړس کلنۍ کې يې مور دې ته لېواله کړه، چې اجازه ورکړي نور ښوونځی پرېږدي. يو څه وخت يې په بېکارۍ تېر کړ او خپل ټول وخت يې مطالعې او نقاشۍ ته بېل کړ. شپې به د موسيقۍ او تياتر پروګرامونو ليدو ته ورته.

آدولف د جرمني د اسطورو په تړاو له عظمت او عزت ډک داستانونه خوښول. بالاخره آدولف پخپلو هغو هيلو پسې شو، چې پلار يې غوښتل هغه ترې منع کړي. هوډ يې ونيوه، چې هنرمند شي.

---

*د آنتي سميتېزم لغت په لومړي وار له (يهودو سره د ضديت) لپاره يو شمېر سياسي شنونکو له لوري چې غوښتل يې يهود بايد له خپلو ټولو ټولنيزو حقونو بې برخې شي، د جرمني په ورځپاڼو کې وکارول شو. دغه اصطلاح ډېر ژر په نورو هېوادونو کې هم مشهوره شوه. له هماغې ورځې تر ننه دا لغت له يهودو سره د ضديت لپاره کارول کېږي. ان يو شمېر يونانيانو هم په دې دليل چې يهودان يو خدای نه مني، هغوی نه خوښول.*

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۳ څپرکی

# په 'وين' کې ناکامي

آدولف هټلر په ۱۹۰۷ ز کال په اتلس کلنۍ کې د اتريش په پلازمېنه لئوندينگ کې د ښکلو هنرونو اکاډمۍ ته ورغی. هغه غوښتل د عمومي نقاشۍ پوهنځي ته د شاملېدو په ازموينه کې برخه واخلي. سره له دې چې مور يې دا مهال د سرطان ناروغۍ له امله ډېره کمزورې شوې وه، خو هغه يې وهڅوه، چې په ازموينه کې د برخه اخستو لپاره ولاړ شي. هټلر خپل سفر پيل کړ او فکر يې کاوه، چې ددې پوهنځي په ازموينه کې برخه اخستل به لکه د اوبو ورته اسانه وي.

هغه تېروتی و. د هنر ازموينې اخستونکو هغه ايله همدومره وباله، چې د طراحۍ په ازموينه کې برخه واخلي. خو دا چې هغه ونشواى کولاى ډېرې ښېرې رسم کړي ورته وړانديز وشو، چې د انجينرۍ پوهنځي ته ولاړ شي. خو هټلر خپلو هيلو ته ژمن و. هغه لا هم فکر کاوه، چې يو ښه نقاش جوړېداى شي او په انجينري پوهنځي کې نشي کولاى تخنيکي درسونه

زده کړي.
هټلر چې په دې ماتې خوړلو سخت ناهیلی شوی و بېرته کور ته ستون شو، خو د خپلې ناروغې مور څارنه وکړي. هغې ته یې ونه ویل، چې په ازموینه کې نه دی بریالی شوی. کلارا د ۱۹۰۷ ز کال د ډسمبر په ۲۱ ومړه او مرگ یې د هټلر ټول پلانونه گډوډ کړل. وروسته یې ولیکل:
((د مور مړینې مې ټول لوړ خیالونه راونړول. ... دا پېښه په ځانگړي ډول زما لپاره غمجنه وه. پلار مې راته د احترام وړ و، خو له مور سره مې ډېره مینه درلوده.))
هټلر د ۱۹۰۸ ز کال په فبروری کې (وین) ته وگرځېد او هلته له خپل نږدې ملگري آوگوست کوبیسِتک سره چې هغه هم د موسیقۍ زده کړې کولې په یوه کور کې واړول. هټلر نقاشۍ ته دوام ورکړ او یو وار بیا یې د هنر پوهنځي لپاره نوم لیکنه وکړه، خو دا وار یې هم نقاشي هغومره ښه نه وه، چې ان په ازموینه کې دې برخه اخستو کې شامل شي.
هټلر د کمۍ احساس وکړ. په دویم وار د ناکامۍ له امله سخت وشرمېد او پرته له دې چې چاته خبر ورکړي خپل بار او بستر یې وتړه او د اوسېدو له کوره ووت. د یو څه وخت لپاره یې خونه کرایه کړه، خو بالاخره یې ژوند د سړک سرته ورسېده.
په ۱۹۰۹ ز کال کې هټلر د خپل ژوند د اړتیاوو پوره کولو لپاره خواري مزدوري پیل کړه او ان کله نا کله یې سوالگري هم وکړه. له پیوند، خیرنو او بوینو جامو سره به په پارکونو او د بې ښځو نارینه و په ځانگړو ځایونو کې اوسېده. هغه وروسته په دې اړه ولیکل: (( اوس هم چې د هغې مسافرۍ، گندونو، پناه ځایونو او اوسېدو ځایونو په اړه په یاد راوړم، لړزه مې اخلي.))
په ۱۹۱۰ ز کال کې یې وضعیت ښه شو. د راینهولت هانیش نوي ملگري

Scanned by CamScanner

په هځونه، چې د برلېن يو سرگردانه انسان و هغه د (وين) مهم تاريخي ځايونه نقاشي کړل. هانيش به ددې نقاشيو لپاره پېرېدونکي پيدا کول. هټلر يوه نوي کور ته چې د يوه مجرد سړي لپاره د عزت او ابرو ځای و کډه وکړه. هغه چې د کوچنيو نقاشيو په پلورلو سره نسبي برى موندلى و، د لويو نقاشيو په اېستلو او پلورلو مصروف شو. هغه به په زړه پورې او تاريخي ځايونه نقاشي کول.

هټلر وروسته وويل، چې د مجردی په کور کې يې د يهودانو د ځپلو او له هغوی سره د تعصب فکر پراخ کړ. هغه داسې رسالې او ورځپاڼې لوستې چې اريايي نژاده او د شمال سپين پوستي خلک يې تر نورو غوره او بېل کسان بلل. وړاندې هم له دغه شان مسايلو سره بلد و، خو په هغه وخت کې يې دې باورونو بيخي په زړه کې ځای ونيوه. هغه د يو داسې ملت د جوړېدو هيله لرله، چې له اريايانو او د جرمني له بې جوړې نژاد څخه وي، چې د يهودانو له شر څخه نړۍ خلاصه کړي او هغوی يې نامطلوب کسان بلل.

Scanned by CamScanner



*هټلر له خپلو پوځي افسرانو سره*

هټلر په دغه کال ۲۱ کلن شو او د اتریش په پوځ کې له اجباري خدمت کولو یې انکار وکړ. غوښتل یې جرمني ته وتښتي، هغه ځای چې له فرهنګ سره یې ورته مینه لرله. په هر حال غوښتل یې صبر وکړي او هغه میراث چې پلار یې ورته پرېښی و، واخلي: د پیسو د اخستو لپاره هغه باید ۲۴ کلن شوی وای. درې کاله تېر شول او بالاخره هغه د خپل میراث پیسو چک ترلاسه کړ. د ۱۹۱۳ ز کال د مې په ۲۴ یې (وین) پرېښود. وروسته یې د دغه وضعیت په اړه ولیکل:

(( کله چې دې ښار ته داخلېدم نوی ځوان وم، خو کله چې مې دغه ښار

Scanned by CamScanner

پرېښوده، يو خاموش او تريخ انسان وم. په دې ښار کې مې د نړۍ ليد نوې طرحه او پراخ سياست ياد کړ. ... چې وروسته له هغه د تل لپاره ورته وفاداره وم!))

له هغه وروسته احتمالاً هټلر نړۍ ته له يوه متفاوت ديده کتل، خو لا هم په کور ناست يو داسې څوک و، چې له سياست او ثابت مصروفيت څخه يې ډډه کوله. وروسته يې سياسي ليد لوري تکامل وموند، خو په هغه وخت کې له نفرت کوونکي تعصبي فکر او د جرمني د پرمختګ له ارمان سره يو ځای مونيخ ته روان شو.

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۴ څپرکی

# جرمنی سرتېرې

هټلر په مونيخ کې يوه ارزانه خونه کرايه کړه او د تاريخي سيمو د نقاشۍ له پلورلو يې همېشنی کار پيل کړ. د هغه خوښېدل چې په قهوه خانه کې کېني ورځپاڼې ولولي او له هر هغه چا سره بحث وکړي، چې خبرو ته يې غوږ ږدي. بالاخره د ۱۹۱۴ ز کال په فبروري کې هغه د اتريش پوځ گير کړ او د پوځي خدمت لپاره يې اتريش ته بوت. خو تر نيولو وروسته يې هغه بېرته خوشې کړ او د کمزورۍ له وجې يې پوځ ته له خدمت کولو معاف کړ.

که څه هم هټلر نه غوښتل د اتريش پوځ ته خدمت وکړي، خو ناڅاپي د اوړي په لومړيو کې د لومړنۍ نړيوالې جگړې له پيل سره د جرمني په پوځ کې پخپله خوښه شامل شو. بالاخره هغه يو څه درلودل، چې بايد جگړه وکړي او هغه: جرمني و.

د اتريش د ۸۴ کلن وليعهد او وارث مهين دوک فرانتس فردنياند له ترور سره سم جگړه پيل شوه. يوه افراطي سربي (د سربستان اوسېدونکي) د بوسنيا پلازمېنې سارايو کې ـ هغه سيمه چې سربستان او اتريش پرې لانجه لري ـ د فردنياند او د هغه د مېرمنې (سوفي) په موټر ډزې وکړې.

د مهين دوک وژنه ددې لامل شوه، چې اتريش له سربستان سره جگړه اعلان کړي. جرمني ژمنه کړې وه، چې له خپل گاونډي اتريش سره به په

دې جګړه کې د هغه ترخنګ درېږي او همداسې يې وکړل. کله چې روسيه د سربستان په ننګه راپورته شوه، جرمني له روسيې سره د جګړې اعلان وکړ. فرانسې پرېکړه وکړه، چې په دې جګړه کې له روسيې سره يو ځای شي. جرمني د روسيې پر ضد هم د جګړې اعلان وکړ. جرمني همدا ډول له بې طرفه بلجيم سره هم پر جګړه کېوت. بلجيم د فرانسې پلازمېنې پاريس نيولو لپاره لنډه لاره وه. انګلستان له بلجيم ملاتړ مهم وباله او په دې توګه د جرمني په وړاندې ودرېد. ډېر ژر نور هېوادونه هم په



جګړه کې ښکېل شول او په دې توګه جګړه نړيواله شوه.

دا چې هټلر لا تر اوسه د قوي باور وړ سرتېری نه و، نو يوازې به يې د يوه قاصد په توګه له پوځي مرکزونو د افسرانو اوامر تر ځمکې لاندې د پوځيانو سنګرونو ته رسول. هغه د خپلې سرتېری دوره (د ځمکې پر سر په ژوند

Scanned by CamScanner

کې بې جوړې او نه هېرېدونکې دوره) بللې. لس کاله وروسته يې په جګړه کې د خپلو تجربو په اړه داسې وليکل:

((ان نن ورځ هم د شرم احساس نه کوم، چې ووايم؛ هغه مهال مې په خوشالۍ او هيجاني ډول ګونډه ووهله او د زړه له تله مې له خدايه مننه وکړه، چې زه په دې وخت کې ژوند کوم. دا جګړه د ازادۍ لپاره پيل شوې وه، چې تر نورو جګړو ډېره قوي وه.))

د جګړې تجربه د هټلر پاتې ژوند جوړوي. وروسته په څلونو يادوي، چې په پوځ کې د شپږ کلن خدمت پر مهال هېڅ اندېښمن نه و. خوراک، جامې او د اوسېدو ځای ټول يې تامين وو. خو له دې ټولو مهم هغه احساس و، چې هغه پرې پوهېده. هټلر وروسته ووېل:

((په ۱۹۱۴ ز کال کې د عقيدتي احساساتو د اغېز په اساس جبهې ته ولاړم. وروسته د سلګونو او زرګونو کسانو د وژل کېدو شاهد وم. په دې اساس وروسته پوه شوم، چې په جنګي ژوند کې رحم او کرم نشته او هدف يې د نسلونو له منځه وړل دي. بايد يوه ډله ومري، چې نور ژوند وکړای شي.))

له څلور ورځنۍ جګړې وروسته يې په مونيخ کې خپلو دوستانو ته وليکل، چې له ۳۶۰۰ سرتېرو يې شاوخوا درې زره تنه مړه او ټپيان شوي دي. تر دومره لويې ورانۍ او تباهۍ وروسته ورو، ورو د جرمني بقا ته متوجه شو. هټلر د جګړې له جبهې په يوه ليک کې توضيح کړل، چې ولې يې له نړيوالې سولې بدې راځي او له هر بهرني څخه پاک او يوازې د بې جوړې جرمني غوښتونکی دی: هره هغه ډله چې تر موږ وروسته به د هېواد د ليدو بخت ولري هغه به له پرديو سره له تړاو څخه پاک ومومي. ... همدا ډول د نړيوالې سولې لپاره به زموږ هڅې پای ته ورسېږي او ددې ټولو ارزښت تر فتوحاتو ډېر دی.

Scanned by CamScanner

که څه هم د هټلر ملګري له جګړې او د جګړې له فشاره ستړي شوي وو، خو بيا يې هم ترې خوند اخست. له دې ټولو سره هغوی خوښول، چې نيمه شپه پيغام واستوي. غږ به يې کاوه: (( پيک!)) هټلر به له خپل ځايه خيز ووهه. بېرته به يې ځواب کې ورته وويل: (( همېشه تاسو را وړاندې




کېږئ.)) هټلر به بيا ورته وويل: (( اجازه ورکړئ، چې نور ويده شي. مهمه نه ده.)) که څه هم د هغه ډېرى ملګرو د هټلر ددې قربانيو مننه کوله، خو ډېرى نورو به ورته ښکنځلې کولې او هغه به يې تنګوه.

ډېرى وخت به د هټلر کارونه خطرناک وو. وروسته يې تشريح کړه، چې هغه څنګه او څه ډول په ځلونو له مرګه بچ شوی دی. يو ځل يې مرمۍ په لستوڼي ولګېده، خو لاس يې بچ شو. يو ځل بله کيسه کوي، چې په سنګر کې يې له خپلو ملګرو سره يو ځای ډوډۍ خوړله، احساس يې کړه، چې دا ځای پرېږدي، خو شېبې وروسته په همدې ځای توپ ولګېد او

د سنګر ټول ملګري يې په کې و وژل شول. په دغه شان پېښو کې له مرګ څخه ژغورل کېدو هټلر ته دا پيغام درلود، چې يوه لوی مرګ ته بايد انتظار وباسي.

د لومړۍ نړيوالې جګړې په لويه برخه کې داسې ښکارېدل، چې جرمني بريالی دی. جرمني لوګزامبورګ، تقريباً ټول بلجيم او د فرانسې شمالي برخه ونيوله. په ختيځ کې روسيې په ۱۹۱۷ ز کال کې له جرمني سره د سولې تړون لاسليک کړ او ډېره ځمکه يې ددې تړون پر اساس جرمني ته پرېښوده. که څه هم په ۱۹۱۸ ز کال کې د جرمني پوځ له زور او قوت څخه وغورځېد او د تجهيزاتو برابرول ورته ستونزمن شول.

په ۱۹۱۷ ز کال کې د امريکا متحده ايالتونه جګړې ته داخل شول. د نورو هېوادونو په پرتله چې درې کاله په جګړه کې ستړي شوي وو د امريکا ځواکونه تازه دمي وو. د ۱۹۱۸ ز کال په اوړي کې ثابته شوه، چې جرمني نه شي کولای په دغه جګړه کې بريالی شي. د جرمني خلک له جګړې ستړي شوي وو. د جرمني په ډېرى برخو کې ګډوډۍ راپورته شوې. قوماندانانو د جګړې د پر مخ وړو لپاره له اوامرو سرغړونه پيل کړه. د وسلو جوړولو فابريکو کاري اعتصاب وکړ او د نورو بمونو او وسلو له جوړولو يې انکار وکړ. سرتېرو د افسرانو له اوامرو سرغړونه وکړه او هېواد مشر دويم شاه ويلهلم هالينډ ته وتښتېد. د جګړې ضد رهبرانو د جګړې پخوانۍ ډلې، چې له کارګرانو او پخوانيو سرتېرو جوړې وې راټولې کړې او په سيمه ييزه کچه يې حکومت پخپل واک کې واخست. که څه هم دوی په ټول هېواد کې پخپل دې هدف کې بريالي نه شول.

د ۱۹۱۸ ز کال د نومبر پر يوولسمه د جرمني استازي د اوربند تړون لاسليک کړ او جګړه ودرول شوه. ډېر وخت نه و تېر شوی، چې بريالي او همغږي هېوادونه پاريس ته نږدې په وارسا کې سره راټول شول، څو

Scanned by CamScanner

په هر ډول چې کېږي د سولې تړون لاسليک کړي.
لومړۍ نړيوالې جګړې د اروپا ډېرې برخې ويجاړې کړې وې، ميليونونه انسانان و وژل شول، ښارونه، لويې لارې، پلونه، پلچکونه، فابريکې او کروندې ويجاړې شوې وې. تر دومره پراخو ويجاړيو وروسته همغږو هېوادونو هم هوډ نه درلود، چې په ماتې خوړليو هېوادونو مهربانه شي.
اووه مياشتې وروسته د ۱۹۱۹ ز کال د جون په ۲۸ د وارسا تړون لاسليک شو. ډېر وخت تېر شو، څو بريتانيا، متحده ايالتونه او فرانسه - درې لوی قدرتونه - د تړون د ګټو په اړه هوکړې ته سره ورسېږي.
د فرانسې لومړي وزير ژرژ کلمانسو غوښتل جرمني دومره وځپل شي او پرې فشار راوړل شي، چې په راتلونکي کې بيا د دغه ډول جګړو د پيل جرئت ونه کړي. د لويې بريتانيا لومړي وزير ډيوډ لويډ جورج هم په جرمني د فشار راوړلو طرفدار و، خو تر روسيې دباندې د کمونيزم پراختيا ته په اندېښنه کې و. هغه وېره درلوده، چې که په جرمني ډېر فشار راوړل شي ښايي د جرمني خلک کمونيزم ته ترجيح ورکړي. خو ددې ترڅنګ جورج دې موضوع ته هم په اندېښنه کې و، چې که په جرمني فشار را نه وړل شي ښايي دغه هېواد ډېر ژر د لومړي وزير مقام له منځه يوسي.
ددې دريو لويو هېوادونو لوی رهبر يعنې د امريکا متحده ايالتونو ولسمشر ووډرو ويلسون غوښتل جرمني تنبيه کړي، خو لېواله و، چې که وشي د جګړې تپونه بېرته ورغول شي. دې تړون جرمني مجبور کړ، چې د لومړۍ نړيوالې جګړې ټول مسووليت پخپله غاړه واخلي. همغږو هېوادونو غوښتنه وکړه، چې جرمني بايد ۳۳ ميلياردە ډالره غرامت ورکړي: يعنې د جګړې په دوام کې نورو هېوادونو ته د اوښتو زيانونو جبران. ددې ډول مالي زيانونو جبران جرمني د کلونو لپاره له مالي فلج سره مخ کاوه.

Scanned by CamScanner

پر دې سربېره دي «تړون» د جرمني پوځ د سل زرو نفرو شمېر ته محدودولو او همدا ډول دغه هېواد يې له هوايي او زغروال ځواکونو څخه منع کاوه. جرمني کولای شول يوازې شپږ جنګي بېړۍ ولري او تر سمندرونو لاندې د ځواکونو لرل، خو بيخي مجاز وو. پر دې سربېره جرمني ۱۳ په سلو کې خپل ځمکنی ملکيت له لاسه ورکاوه لکه له امريکا چې کليفورنيا، نوادا، اورګون او نيم واشنګټن جلا کړای شي. دغه خاوره فرانسې، بلجيم، ډنمارک، پولېنډ او چکسلواکيا ته ورکړل شوه.

د وارسا تړون د جرمنيانو له نظره عادلانه نه و او سپکوونکی يې باله، خو همغږو هېوادونو ورته کوم اهميت ور نه کړ. جرمنيانو په دې تړون د اعتراض حق نه درلود. که چېرې جرمنيانو له دې تړون سرغړونه کوله، همغږو هېوادونو به له سره د جرمني پر وړاندې جګړه پيلوله.

د وارسا تړون د ملتونو د ټولنې د سازمان د رامنځته کېدو لامل شو. هغه نړيوال سازمان، چې په راتلونکي کې د دغه ډول نړيوالو احتمالي لويو جګړو مخه به نيسي. خو دغه سازمان خپلو دې اهدافو ته ونه رسېد او په اروپا کې يې د سولې دغه تړون عملي نه شوای کړای. په بدل کې يې يوه «غوسه ناک» آلماني سرتېري ـ آدولف هټلر ـ ته د واک د رسېدو زمينه برابره شوه.

---

*همغږو هېوادونو په جرمني د جګړې د غرامت پيسې له لومړۍ نړيوالې جګړې نيولې بيا تر راتلونکو شپېتو کلونو پورې کېښودې او تر ۱۹۸۰ ز کلونو پورې ورته مهلت ورکړل شوی و، خو دا چې جرمني وروسته له اقتصادي ناورين سره مخ شو، نو د غرامت اداينه يې په ۱۹۳۱ ز کال کې ودروله.*

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۵ څپرکی

# سياست ته داخلېدل

کله چې جرمني د ۱۹۱۸ ز کال د نومبر په يوولسمه محاصره شو هټلر برلېن ته نږدې په يوه روغتون کې بستر و، څو د ګازو له وجې د سترګو د ديد کمزورۍ علاج وکړي. د جرمني د ماتې خبر د هغه روحيه سخته ځپلې وه. هغه وروسته په دې اړه وليکل:
خاورو ته د مور د سپارلو له ورځې مې تر هغې ورځې چې جرمني ماتې وخوړه، نه و ژړلي. ... په دې ترتيب هر څه بې ځايه او چټيات وو. قرباني او سختي زغمل ټول بې ځايه و؛ په مياشتو مياشتو لوږې او تندې زغمل ټول بې ځايه وو. د دوه ميليونونه انسانانو مرګ بې ځايه وو. ... په دې شپو ورځو کې مې په زړه کې د هغو کسانو پر وړاندې نفرت اوج ته رسېدلی و، چې ددې ټولو بدبختيو لامل وو. ...
هټلر غوښتل ددې ټولو مرګونو او دردونو مسووليت يو چاته متوجه کړي، چې د جرمني د سقوط لامل شو. په لومړيو کې نه پوهېده، چې له چا نفرت وکړي.
هغه مياشت چې دی له روغتون څخه رخصتېده جګړه پای ته رسېدلې وه او په ژوند کې يې کوم بل هدف نه درلود. هغه چې لا تر دې دمه په پوځ کې و بېرته مونيخ ته وګرځېد او څو مياشتې يې د يوه ساتونکي په توګه خدمت وکړ.
د يهودي پادشاه کورت آيزنر تر تېښتې وروسته نوموړی په جرمني کې د

انقلابي او نیمه کمونیستي حکومت مشر شو. ټول هغه سوسیالستان او یهودان چې دندې یې مخته وړې د هټلر بدې راتلل. خو هغوی د پادشاه په تېښتې دومره خوشاله و، چې د نوي حکومت په مخالفت کې یې هېڅ هم ونه کړل. د ۱۹۱۹ ز کال په فبرورۍ کې یې هغه پوځي ډله چې هټلر په کې وړاندې کار کاوه په حکومت کې خپل استازي وټاکل.

په دې منځ کې د جرمني وضعیت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو و. په پوځ کې د هټلر ډېری همکارانو ایزنر او نور حاکم یهود سوسیالستان ددې وضعیت له امله ګرم بلل. هټلر د پخوانیو وړاندوینو د را ژوندي کولو لپاره، چې په (وین) کې د اوسېدو پر مهال یې کړې وې، ټوله پړه پر یهودانو واچوله. هغه همدا ډول وایمار جمهوریت چې په لومړي وار یې په جرمني کې د ډیموکرات حکومت د رامنځته کولو هڅه کړې وه، ګرم باله. سره له دې چې په کابینه او رایشتاګ ـ د جرمني پارلمان ـ کې ګوته په شمېر یهودان وو، خو هغه ادعا کوله چې ټول حکومت د یهودانو په لاس کې دی.

د ۱۹۱۹ ز کال د اپریل په وروستیو کې د باواریا انقلاب هم ماتې وخوړه. هټلر په پوځ کې خپل همکاران وګومارل، څو معلومه کړي چې څوک د نوي حکومت ملاتړي دي. وروسته هغه د سوسیالېزم د خطرونو په تړاو په یوه روزنیز ټولګي کې برخه واخسته. ښوونکی متوجه شو، چې هټلر یو ښه ویناوال دی او د هغه دې استعداد ته په کتو یې له هغه وغوښتل، چې سرتېرو ته د خپلې وینا له لارې ور زده کړي چې دوی باید د سوسیالېزم ننګه ونه کړي.

پوځ ډېر ژر هټلر ته دنده وسپارله، چې له جګړې را ګرځېدلیو سرتېرو ته وینا وکړي، څو هغوی کمونیستي ارمانونو ته تمایل نه وي موندلی. هټلر ډېره زیاته هڅه وکړه، چې په سرتېرو کې د کمونیزم ضد روحیه پیاوړې

او هغه سوسیالستان او انقلابي او نیمه کمونیستي حکومت مشر شو. ټول هغه یهودان چې دندې یې مخته وړې د هټلر بدې راتلل. خو هغوی د پادشاه په تېښتې دومره خوشاله و، چې د نوي حکومت په مخالفت کې یې هېڅ هم ونه کړل. د ۱۹۱۹ ز کال په فبروري کې یې هغه پوځي ډله چې هټلر په کې وړاندې کار کاوه په حکومت کې خپل استازي وټاکل.

په دې منځ کې د جرمني وضعیت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو و. په پوځ کې د هټلر ډېرې همکارانو ایزنر او نور حاکم یهود سوسیالستان ددې وضعیت له امله ګرم بلل. هټلر د پخوانیو وړاندوینو د را ژوندي کولو لپاره، چې په (وین) کې د اوسېدو پر مهال یې کړې وې، ټوله پړه پر یهودانو واچوله. هغه همدا ډول وایمار جمهوریت چې په لومړي وار یې په جرمني کې د ډیموکرات حکومت د رامنځته کولو هڅه کړې وه، ګرم باله. سره له دې چې په کابینه او رایشتاګ - د جرمني پارلمان - کې ګوته په شمېر یهودان وو، خو هغه ادعا کوله چې ټول حکومت د یهودانو په لاس کې دی.

د ۱۹۱۹ ز کال د اپریل په وروستیو کې د باواریا انقلاب هم ماتې وخوړه. هټلر په پوځ کې خپل همکاران وګومارل، څو معلومه کړي چې څوک د نوي حکومت ملاتړي دي. وروسته هغه د سوسیالېزم د خطرونو په تړاو په یوه روزنیز ټولګي کې برخه واخسته. ښوونکی متوجه شو، چې هټلر یو ښه ویناوال دی او د هغه دې استعداد ته په کتو یې له هغه وغوښتل، چې سرتېرو ته د خپلې وینا له لارې ور زده کړي چې دوی باید د سوسیالېزم ننګه ونه کړي.

پوځ ډېر ژر هټلر ته دنده وسپارله، چې له جګړې را ګرځېدلیو سرتېرو ته وینا وکړي، څو هغوی کمونیستي ارمانونو ته تمایل نه وي موندلی. هټلر ډېره زیاته هڅه وکړه، چې په سرتېرو کې د کمونېزم ضد روحیه پیاوړې

Scanned by CamScanner

کړې. پر دې سربېره هغه د روانو ستونزو يو شمېر نور مسوولان په ګوته کړل: يهودان! هغه به تر هر څه زيات د خلکو لويو، لويو ډلو ته وينا کوله او درک يې کړل چې د خپلې وينا له لارې هغوی قانع کولای شي. اورېدونکي يې هم دغه موضوع تائيدوي. د هغه يو اورېدونکي ليکلي: ښاغلی هټلر له موره يو غوره ويناوال زېږېدلی و. ... د خپل تعصب او خلکو د غوښتنې په اساس يې د اورېدونکو پام ځانته جلبوه او هغوی به يې قانع کول، چې د هغه په څېر فکر وکړي.



*هټلر پوځ ته د وينا پر مهال*

هټلر د ((خاين)) او دښمن په منځ کې د خپل پوځ لپاره ((جاسوسي)) هم کوله. هغه د هغو ډلو په موندلو پسې متې رانغاړلې وې چې غوښتل يې پوځ بايد له منځه يوړل شي او جرمني له نورو ملتونو سره په سوله او پخلاينه کې ژوند وکړي. يوه له همدغو ډلو د جرمني د کارګرانو ګوند و،

Scanned by CamScanner

چې په خلکو کې یې یو څه کم محبوبیت هم درلود. دغه سازمان آنتون درکسلر رامنځته کړی و او ټول د جرمني د ریل پټلی هغه کارکوونکي و، چې غوښتل یې د کارګرانو لپاره باید غوره شرایط رامنځته شي.

هټلر له خپلو ۲۳ همکارانو سره د جرمنی د کارګرانو ګوند په یوه غونډه کې برخه واخسته. نه یوازې چې هټلر ددې ډلې په تړاو د وېرې راپورونه رد نه کړل، بلکې سربېره پر دې یې په پوځ کې خپلو سرلارو ته امر وکړ، چې د ۱۹۱۹ ز کال د سپتمبر پر دولسمه په دویمه غونډه کې برخه واخلي. شاوخوا څلوېښت نفره راټول شوي، چې د هټلر هغو خبرو ته غوږ ونیسي، چې نور پخپله د هټلر لپاره تکراري وې. خو هټلر له وینا وروسته د هغه بحث لېوال و، چې د نظر مخالفینو ته به یې په شور او غوغا ځواب ورکاوه. دې ماجرا د آنتون درکسلر توجه هم جلب کړه. درکسلر وویل: ((دا سړی ددې سړي په تنه ارزي. کولای شو له هغه استفاده وکړو.))

درکسلر داسې زمینه برابره کړه، چې وپوهېږي هټلر د یوې رسالې د چاپ مشري وکړای شي او له هغه یې وغوښتل چې په وروستۍ غونډه کې هم برخه واخلي. هټلر رساله خپلې خېرنې خونې ته یوړه. د معمول په څېر دغه شپه هم هټلر ته هېڅ خوب ورنغی. په داسې حال کې چې خوب ته یې شېبې شمېرلې یوه موږک ته یې پام شو، چې پر ځمکه یې ورته غذا اېښې وه. هغه ویل: (( په ژوند کې مې دومره ښېوزلي تجربه کړې، چې ان د یوه حیوان لوږه هم درک کولای شم او د هغه له مړولو خوند اخلم.))

کله چې د خونې ساعت د سهار د پنځو بجو زنګ وغږاوه لا هم هټلر ویښ و. هغه رساله چې عنوان یې - زما سیاسي ویښتیا - وه، راپورته کړه. په عجب ډول ورته متوجه شو. رسالې د نوي سیاسي ګوند په تړاو خبرې درلودې. دغه ګوند د هغو کسانو لپاره تاسیس شوی و، چې له روانو حالاتو

ناراضه وو. له دې ټولو سره هټلر ډېر ژر رساله له ياده واېسته. خو يوه رسمي ورځپاڼه ورته لاس ته ورغله، چې هغه يې په رسمي ډول د کارګرانو ګوند غړيتوب ته دعوت کړی و.

که څه هم هغه داسې هوډ درلود، چې پخپله يوه سياسي ډله رامنځته کړي، خو له ځان سره يې فکر وکړ، چې بده به نه وي يو وار د جرمني د کارګرانو ګوند په غونډه کې هم ګډون وکړي. د پوځ غړو نشوای کولای د سياسي ګوندونو غړيتوب ولري، خو د هټلر استازو فکر کاوه چې د کارګرانو ګوند په غړيتوب اخستو کولای شي په ښه ډول جاسوسان معلوم کړي. هغه ته يې وړانديز وکړ چې له ګوند سره يو ځای شي.

هټلر ډېر ژر ومونده؛ چې دې سازمان ورته يو داسې موقف ورکړی، چې کولای شي د خپلو هېلو او ارمانونو په تړاو نورو ته وينا وکړي. د هغه په وړانديز د جرمني د کارګرانو ګوند خپلې غونډې په يوې لويې خونې کې ترسره کولې، چې ډېر خلک په کې ګډون وکولای شي. هغوی به غوښتنليکونه چاپول او پخپلو منځو کې يې پيسې ټولولې، چې د خپلو غونډو لپاره پرې اعلانونه چاپ کړي.

د ۱۹۲۰ ز کال د مارچ په وروستيو کې هټلر له پوځ سره خدای پاماني وکړه، څو خپلو سياسي هيلو ته ورسېږي. خلک تيار وو، چې د هغه پيغام واوري او هغه هم يې دا درک کړې وه چې خلک نور د حکومت له کمکاری ستړي شوي وو. بېکاري او بېوزلي هغه ستونزې وې، چې حکومت نه شوای کولای په ساده ګی يې حل و فصل کړي. د جګړې د زيان جبران لپاره به د جرمني پريمانه پيسې نورو هېوادونو ته ورکول کېدې، خو جرمنيان په غوسه و، چې په دې پيسو د دوی بېوزلي او لوږه له منځه وړل کېدای شي. د هغوی غوسې نا خوښي زياتې کړې.

د هټلر په موجوديت کې د کارګرانو ګوند په ۱۹۲۱ ز کال کې په مونيخ

Scanned by CamScanner

کې په یوه ستر سیاسي ځواک بدل شو. په دې وخت کې د جرمني د ناسیونال سوسیالیست کارګرانو ګوند په موقتي ډول د نازیانو په ګوند ونومول شو. دې سازمان زرګونه کسان د لاریونونو لپاره راټول کړل. خلک به ډلې، ډلې د هټلر د ویناوو اورېدو ته د ګوند غونډو ته راتلل.

هټلر پوهېده چې د خپل ګوند لپاره د ارزښت وړ دی او له خپل نفوذ څخه یې د واک نیولو لپاره ډېره استفاده وکړه. هټلر ګواښ وکړ، چې که هغه د ګوند مشر نه شي او د مهمو پرېکړو په تړاو ورسره سلا مشورې ونه شي له نازي ګوند څخه به استعفا وکړي. دغه ډله پوهېده، چې هټلر د نازي تشکیلاتو د ځلېدو لامل شوی، نو ځکه یې ورسره سمدستي هوکړه وکړه: هغوی به هټلر ته فوهِرِ - رهبر - غږ کاوه.




*په بوسنیا کې د نازي ګوند غړي*

هټلر به پخپلو ویناوو او ورځپاڼو کې پخپلو مقالو کې په ښکاره د جرمني د ډیموکرات حکومت کار کړنې نقد کولې او تر بل هر وخت یې خپل تبلیغات پراخ کړل. هغه د خلکو د ناوړه وضعیت ټوله پړه پر حکومت، یهودانو او کمونستانو اچوله. هغه همدا ډول ادعا کوله چې همدغه ډلې

Scanned by CamScanner

په لومړۍ نړيواله جګړه کې د جرمني د ماتې لامل شوې دي. هغه ټاکيد کاوه، چې ټول جرمنيان بايد سره يو موټی شي، يهودان او کمونستان وځپي او پخوانی ملي غرور بېرته راوګرځوي. ډېری جرمنيان د هټلر ددې خبرو عاشقان شول. هغوی د يوه داسې قوي رهبر په لټه کې و، چې روان وضعيت نور پای ته ورسوي او داسې نښې نښانې ورته وښيي، چې يو وار بيا پخپل هېواد وياړ وکړي.

په ۱۹۲۲ ز کال کې نور هېوادونه له هغو ډلو په انديښنه کې شول، چې ورو، ورو په جرمني کې د راپورته کېدو په حال کې وې. د امريکا د متحده ايالتونو د پوځ مشر ترومن سميت مونيخ ته واستول شو، څو د هټلر او نازي ګوند په تړاو معلومات راټول کړي. سميت د جرمني له حکومتي مشرانو، جنرالانو او د هټلر له دوستانو سره ليده کاته وکړل. تر يوې لنډې ارزونې وروسته هغه له هټلر او د نازي ګوند له لوړ پوړو مسولانو سره وليدل. هټلر د جرمني په تړاو خپله انديښنه له امريکايي ميلمه پټه نه کړه. هغه سميت ته وويل: ((جرمني يوازې د ديکتاتورۍ له لارې کولای شي پخپلو پښو ودرېږي!))

سميت پخپلو خاطرو کې هټلر د يوه غولوونکي په توګه معرفي کړ؛ هغه سياسي رهبر، چې د خلکو په احساساتو لوبې کوي او د هغوی له تعصب څخه په ګټنې واک نيسي. هغه ليکلي: ((ما ډېر کم د يوه داسې منطقي او متعصب انسان خبرو ته غوږ ايښی دی. په همدې دليل په خلکو کې د هغه نفوذ بايد ډېر زيات وي.))

سميت پخپل اوږده راپور کې هټلر او نازي ګوند د نړۍ سولې ته د يوه جدي ګواښ په توګه معرفي کړل. سميت خپله پايله داسې راټوله کړې وه: ((زه داسې احساسوم، چې هغه به يو مهم رول ولوبوي. که تاسو هغه خوښوئ او کنه، خو هغه پوهېږي چې څه غواړي.))

Scanned by CamScanner

دغه راپور د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته واستول شو او همداسې پسې له یاده واېستل شو. په همدې منځ کې هټلر خپله نقشه عملي کړه. هغه د ځان لپاره د آشتورم آبتا بلونګ (آس. آ) په نوم شخصي ملېشه جوړه کړه.

د ۱۹۲۳ ز کال د نومبر په اتمه د هټلر آِس. آ (شخصي ملېشه) چې په قهوه يي رنګه دریشیو والا مشور ول، راپورته کړل. هغه هڅه وکړه، چې د (پوچ) کودتا په اساس د جرمني د حکومت واګې پخپل لاس کې واخلي. هټلر هڅه کوله د پوچ ـ یو جرمنی لغت دی، چې په قهرجنه توګه د حکومت نسکورولو معنی ورکوي ـ کودتا په وسیله لومړی د باواریا دولت، چې مرکز يې مونیخ و، ونیسي. هغه مهال د باواریا سرتېرو په نیولو سره هغه کولای شول د هېواد پلازمېنه برلېن په اسانۍ ونیسي.

په مونیخ کې د وربشو د اوبو پلورلو په یوه لوی صالون کې شاوخوا درې زره کسانو د باواریا د رهبرانو وینا اورېدله. هټلر د صالون په وروستۍ برخه کې ارام ناست و او د وربشو اوبه يې څښلې. ماښام ۸:۳۰ د آِس. آ غړي را ورسېدل او کودتا پیل شوه. نازیانو ودانۍ محاصره کړه. وسله په لاس د قهوه يي رنګ لرونکي دریشۍ والا صالون ته ننوتل. هټلر په همدې وخت کې د خپلو همکارانو په موجودیت کې ځان ټربیون ته ورساوه. هټلر د ټربیون شاته خپله وینا پیل کړه:

زه هوډ لرم خپل هغه قسم عملي کړم، چې پنځه کاله وړاندې مې په روغتون کې د بسترۍ پر مهال له ځان سره کړی و: تر هغو مې چې د نومبر خاینان له منځه نه وي وړي ارام به نشم. دې کار ته به تر هغو دوام ورکوم، څو یو وار بیا جرمني د نړۍ پرمخ نه وي ځلېدلی او نۍ جرمني د نړۍ یو له څواکمنو هېوادونو نه وي ګرځېدلی.

کله چې هټلر په صالون کې شته کسان ټول وګواښل، چې که خبرو ته يې غوږ کېنږدي په مرمۍ به يې وولي، نو د باواریا د پوځ قوماندان، د پولیسو

Scanned by CamScanner

مشر او د دولت سيمه ييز مسوول موافقه وکړه، چې له هټلر او وسله والو ملګرو سره به يې همکاري کوي. خو دا هم معلومه وه، چې هغوی يوازې نمايشي همکاري کوله.

په داسې حال کې چې هټلر او غړو يې په صالون کې باواريان ګروګان نيولي و، نورو نازيانو دنده درلوده، چې دولتي ودانۍ تصفيه کړي او د باواريانو صاحب منصبان ونيسي. خو کله چې تر صالون دباندې ستونزه راپورته شوه هټلر مجبور شو د ستونزې د حل لپاره بهر ووځي. د باواريانو صاحب منصبانو د صالون مسوول ډېر ژر باوري کړ، چې د هټلر پلويان شوي او هغه هم ورسره ومنله او ټول يې ازاد کړل. دغو کسانو له ازادېدو سره سم خپل کسان د آِس. آ پر وړاندې منظم کړل.

هټلر چې کله په واقعيت پوه شو، نو موقع له لاسه وتې وه. دا مهال حکومت پلوه باواريانو د هټلر پر وړاندې سنګر نيولی و. هټلر د آِس. آ زرګونه سرتېرو ته امر وکړ، چې مونيخ ښار کې صف، صف ېبرته پرشاتګ وکړي، خو د ښار په يوه مرکزي ډګر کې يوه نازي پر باواريا پوليس ډزې وکړې او وسله واله نښته رامنځته شوه. يو څو پوليس او شپاړس نازيان په دې پېښه کې ووژل شول. د جګړې له پيلېدو سره سمدستي د هټلر ساتونکي د هغه مخته ځان وغورځاوه او د هغو مرميو مخه يې ونيوله، چې کېدای شي هټلر يې همدلته وژلی وای. هټلر وتښتېد او د خپل يوه دوست په کور کې پټ شو. درې ورځې وروسته هغه ځای افشا شو او هټلر ونيول شو.

د (پوچ) کودتا تر ماتې وروسته هټلر هېواد ته د خيانت په تور محاکمه شو. محکمې د ملت توجه جلب کړه او هغه په ټول جرمني کې مشهور شو. هټلر محاکمه شو، خو سزا ورته ډېره کمه - يوازې پنځه کاله بند - وټاکل شوه، چې دغه بند به د مونيخ ښار د سويل په ۴۸ کيلومترۍ کې

Scanned by CamScanner

پروت لاندزبرگ زندان کې تېروي. هتلر په لومړيو کې سخت مايوسه شو. هغه فکر کاوه هغه کسالو ورسره خيانت کړی، چې په هغه يې باور کړی و او دا چې په ورځپاڼو کې په خپرو شويو مقالو او ماتې يې ريشخند وهل کېده له سخت روحي کړاو سره مخ شو. د کودتا پر مهال يې په چپه اوږه کې سخت درد احساس کړ. په ناراحتۍ يې د نه خوړو اعتصاب وکړ. کله چې يې ملګري آنتون درکسلر زندان ته لېدو ته ورغی هغه تقريباً دوه اونۍ څه نه و خوړلي. درکسلر د هتلر د ظاهري کمزورۍ او تنبتېدلي رنګ په ليدو تعجب وکړ. هغه په ياد لري: (( ومې ليدل چې د يوه يخ وهلي په څېر د زندان د پنجرو تر شا غونجې منجې ناست وو.))

د زندان ډاکتر درکسلر ته وويل، چې که هتلر څه ونه خوري ډېر ژر به ومري. نږدې دوه ساعته درکسلر هڅه وکړه هتلر قانع کړي. درکسلر ويلي: ((هغه ته مې وويل، که څه هم زمينه مساعده نه ده، خو پام چې تسليم نه شې او تول څه له لاسه ور نه کړې. ګوند تاته اړتيا لري، خو يوه ورځ بېرته له سره پيل وکړو. ... بالاخره مې ورته وويل؛ موږ غوره بولو چې ستا له



مرګ سره يو ځای موږ هم ومرو.))

زما د وفادارۍ دغو څرګندونو د هټلر ناهيلي له منځه يوړه. ډېر وخت نه و تېر شوی، چې هټلر يو وار بيا د راتلونکي لپاره پر خپلو پلانونو جوړولو پيل وکړ.

په ۱۹۲۴ ز کال کې چې لا هم په زندان کې و د خپل مشهور کتاب ((ماين کامپف)) - ((زما جګړه)) - پر ليکلو پيل وکړ. هټلر په دې کتاب کې د خپل ځان په تړاو د معلوماتو له ورکولو سره له يهودانو د نفرت لرلو په اړه هم جزيات روښانه کړل. هغه وليکل: زه په دې باور يم چې جرمنيان تر بل هر چا غوره دي.

هغه پخپل کتاب کې د ډيموکراتو هېوادونو د نابودۍ او د يهودانو له شره د نړۍ ژغورلو طرحه هم بيان کړه. هغه وايي؛ د امريکا متحده ايالتونو او لويې بريتانيا مشران زما له دې طرحو خبر و، خو ډېرو کمو يې دا باور کاوه، چې هټلر دې يوه ورځ دغه طرحې عملي کړای شي.

---

*د هټلر پوځ د اشتورم آبتا بلونګ (اس. آ) نومېده. په ۱۹۲۱ ز کال کې د سياسي غونډو د اخلال لپاره رامنځته شوه. ددې پوځ غړو به ايريي رنګه جامپرونه، قهوه يي رنګه جامې او د اوسپنيي خولۍ په سرولې. دوی به درانه جنګي بوټان او پرېړې جورابې اغوستې او په مټ به يې د خپلې ډلې تور رنګه نښان تومبه. په دې نښان د صليب ماته نښه کښل شوې وه. نازي نښان له يوناني صليب څخه الهام اخستی و، چې د ساعت د عقربې په لور کوږ و او د مټ په وروستۍ برخه کې به تړل کېده. دوی به له ځانونو سره پخپلو بيرغونو کې مات صليبي نښانونه لېږدول او دا کار يې د موسيقۍ د ګروپونو پر غاړه وو.*



Scanned by CamScanner

## ٦ څپرکی

# واک ته رسېدل

دا چې هټلر د محاکمې پر مهال د مهمو دولتي اشخاصو همدردي جلب کړې وه، نو د زندان دوره ورته ډېره په زړه پورې شوه. د ډېرى خبرياالانو او نورو کسانو وړانديزونه يې ترلاسه کړل، چې غوښتل يې له هغه سره مرکې وکړي. همدا راز د زندان دوره ددې لامل شوه، چې له يهودانو د هغه نفرت لا پسې زيات شي:

له يهودانو سره د جګړې طريقه مې بدله کړه. زه دې پايلې ته ورسېدم، چې لا تر اوسه مې له يهودانو سره له نرمښته کار اخستی!. ... باالاخره ما ومونده، چې د بريالیتوب لپاره خپله جنګي طرحه نوره هم پسې سخته کړم. زه دې پايلې ته ورسېدم، چې دا نه يوازې زما د ژوند و مرګ لپاره مهمه موضوع ده، بلکې د ټولو خلکو لپاره مهمه ده. يهودان د نړۍ لپاره «آفت» دي!

په ۱۹۲۴ ز کال کې هټلر د خپل بند له پنځو کلونو يوازې د نهو مياشتو تر تېرولو وروسته ازاد شو. د باواريا سترې محکمې د هغه د ازادېدو حکم صادر کړ. هټلر په لاندزبرګ زندان کې ټول پر ځان را مات کړي وو. کله چې له زندانه خوشي شو، نو د زندان مشر او هلته شته ټولو مامورينو پسې ژړل او نه يې غوښتل هغه له دې ځايه ولاړ شي.

د نازي ګوند ګڼ پلويان په مونيخ کې د هټلر د کور شاوخوا راټول شوي و، چې له رسېدو سره سم د هټلر هرکلی وکړي. کور ته له رسېدو سره سم

د هټلر هرکلی په ګلانو او خوراکونو وشو، چې د خلکو له خوا ورته ډالۍ کې راوړل شوي وو. هغه له ځنډ پرته بېرته خپل کار ته وګرځېد.
د ۱۹۲۵ ز کال په لومړيو کې يې له لومړي وزير هاينريش هلت سره وليدل. هغه هلت ته وويل، چې غواړي له حکومت سره همکاري وکړي او پخپله ژمنه يې ورته قسم وخوړ. هلت سمدستي د هغه په خبره باور وکړ او يوازې پنځه اونۍ وروسته نازي ګوند يو وار بيا د باواريا په سياست کې رول لوبېدو لپاره صحنې ته راووته.
هټلر د ۱۹۲۵ ز کال د فبرورۍ پر ۲۷ له بند څخه تر ازادېدو وروسته په لومړي وار وينا وکړه. هغه د وربشو د اوبو پلورلو په هماغه صالون کې په جوش او خروش وينا کوله. شاوخوا څلور زره کسان په صالون کې او زر کسه تر ودانۍ بهر د هغه لپاره راټول شوي وو. هټلر د باواريا خلکو په يوه اتل بدل شوی و.



هټلر پخپله خبرو کې خلک دعوت کړل، چې د مرګ تر وخته له یهودو او کمونستانو سره مبارزه وکړي. هغه د خلکو احساسات او د هغوی تعصب راوپاروه او ښکاره بېلګې یې ورسره شریکې کړې. خو د باواریا حکومت له نظره د هټلر وینا ډېره تېزه وه او هغه یې د خلکو په منځ کې له وینا کولو څخه د دوو کلونو لپاره منع کړ. په هر حال هټلر په همدې موده کې د واک داسې تخم کرلی و، چې په راتلونکي کې یې وربېي.

په دې وخت کې هټلر تصمیم ونیوه، چې خپله ستراتیژي بدله کړي. د تاوتریخوالي پر ځای هغه هڅه پیل کړه، چې په ټول جرمني کې د حکومت د مرکزي هستو په توګه د سمه ییزو سازمانونو مهمې برخې پخپل لاس کې واخلي. ددې سازمانونو په نیولو سره د واک ډېره برخه د نازي ګوند لاس ته ورتله. ګوند ددې سازمانونو په وسیله کار کاوه، چې وکولای شي بالاخره د ټول برلین واک پرې ونیسي. دغه سیمه ییز سازمانونه جوړ شول، خو دا چې په جرمني کې د خلکو ژوند ښه تېرېده، نو ډېرو کمو کسانو دې سازمانونو ته توجه وکړه.

د ۱۹۲۰ ز کال په دویمه لسیزه کې جرمني یو وار بیا په یوه پر ځان بسیا او محترم هېواد بدل شوی و. په ۱۹۲۷ ز کال کې جرمني په ټوله معنی د ملګرو ملتونو یو غړی هېواد شو او په دې سره یې فرصت وموند، چې د نړیوالو موضوعاتو په اړه هم خپل نظر څرګند کړای شي. خو په واقعي توګه هټلر ته هغه مهال واک ته د رسېدو چانس په لاس ورغی، چې د ۱۹۲۹ ز کال په اکتوبر کې د امریکا متحده ایالتونو د ونډو بازار له کنټروله ووت، چې له امله یې نړیوال اقتصاد مات شو. کله چې د نیویارک په بازارونو کې د ونډو بیې سقوط شوې، ډېری جرمنیان ورسره زیانمن شول. دې کار یو وار بیا د هغو پیسو په اړه د خلکو شور پورته کړ، چې د غرامت په توګه یې د لومړي نړیوالې جګړې زیانمنو هېوادونو ته ورکولې. په

همدې حال کې چې بانکونه مات شول ورسره وزګارتیا زیاته شوه او په دې وخت کې په جرمني کې ټاکنې هم د ترسره کېدو په حال کې وې.
که چېرې لومړی وزیر په رایشتاګ (پارلمان) کې ډېرې رایې نه اخستې بیا به په جرمني کې سراسري ټاکنې ترسره کېدې. دا چې هر ځل سراسري ټاکنو ته زمینه برابرېده، ورسره به په جرمني کې د نازي ګوند وضعیت هم ښه کېده. دې ګوند په ۱۹۲۴ ز کال کې درې په سلو کې چوکۍ درلودې، خو په ۱۹۳۰ ز کال کې یې د ګوند برخه ۱۸ په سلو کې لوړه شوه.
هټلر په ۱۹۳۲ ز کال کې جمهوري ریاست ته نوماند شو او په حیرانوونکې توګه یې دېرش په سلو کې رایې واخستې؛ خو د بریالیتوب لپاره دغه اندازه رایې کمې وې. یو وار بیا پاول فون هیندنبورګ وټاکل شو. د هټلر ستراتیژي ډېره پرمختللې وه، خو هغه و نه شوای کولای ډېرې رایې واخلي. ډېر وخت نه و تېر شوی چې پخپل جذابیت سره یې ګڼ شمېر نور مینه وال پیدا کړل.
ډېری مېرمنې د هټلر پلویانې شوې. ډېری زړو مالدارو مېرمنو د پریمانه پیسو په ډالۍ کولو سره نازي ګوند ته خپل ښه نیت وښود. ډېری ځوانې مېرمنې هم ددې سړي عاشقانې شوې، هغه څوک چې قدرت رسېدو ته یې په تېزۍ لاره لنډوله. یو شمېر کسان د هغه داسې مینه وال شول، چې ان دده مینه یې د ځانونو لپاره خطر باله.
د دغو نجونو له ډلې د ګلې په نوم یوه د هغه د خورلنې (لور) وه. د هټلر خورلنې انګلا د خدمتګارې په توګه د هغه د کور کارونه کول، چې څو میاشتې وروسته یې لور ګلې هم له هغه سره یو ځای شوه. ډېر وخت نه و تېر شوی، چې ۳۹ کلنه ګلې نور په مونیخ کې د نازي ګوند د میلمستیاوو په هره رسمي غونډه کې حاضره وه. د هټلر ملګرو به ویل، چې ګلې یوازینۍ مېرمن ده، چې هټلر یې لکه د هغې د مور هومره خوښوي.

خو په سیاسي کارونو کې ډوب هټلر نور زوړ او ګِلې یوه ښایسته او ښکلې پېغله وه. ډېر وخت نه و تېر شوی، چې د هټلر غیرت راوپارېده او هغه یې په یوازې ځان بهر ته له وتو منع کړه. په ۱۹۳۱ ز کال کې له ورځو یوه ورځ دا نجلۍ خپه وه او د هټلر په اوه ډزي یې خپل تټر سوری، سوری کړ او ومړه.

د هټلر زړه مات شو، خو لږ څه وخت وروسته له یوې بلې ځوانې معشوقې سره بلد شو. ۱۹ کلنه ښکلې اِوا براون د هټلر د شخصي عکاسې دستیاره وه. براون به ډېری وخت ګیلې کولې، چې هټلر ورته هېڅ پام نه کوي. په ۱۹۳۲ ز کال کې هغې هم لکه د ګِلې په څېر د ځانوژنې هڅه وکړه، خو وژغورل شوه. تر دې پېښې وروسته هټلر دې نجلۍ ته یو څه توجه زیاته کړه، خو وروسته هغې هم ۱۹۴۵ ز کال کې له هټلر سره یو ځای ځانوژنه وکړه.

اِوا په دې فکر کې وه، چې له هټلر سره به واده وکړي او کورنۍ به جوړه کړي، خو هټلر ځان د جرمني خاوند باله. هغه به د جرمني ټول خلک خپل اولادونه بلل او ادعا یې کوله چې خلک یو داسې پلار ته اړتیا لري چې هغوی له ناهیلۍ او خپګانه وژغوري، چې په دې ورځو کې پرې اخته وو. هټلر فکر کاوه همدغه شخص، دی پخپله دی. مېرمن او اولادونه یې د خپلې ګرانې خاورې دې لویو ارمانونو ته رسولی شي.



که څه هم اِوا فکر کاوه، چې یوازې پرېښودل شوې او له یاده اېستل شوې، خو هېڅکله یې هغه یوازې پرېښنبود. هټلر د اِوا د ځانوژنې په اړه د ګناه احساس کاوه، خو د جرمني او قدرت نیولو په بدل کې بیا دا موضوع ورته مهمه نه وه. د هغه ټول غم او هڅه دا وه، چې د هېواد رهبر شي.

د ۱۹۳۲ ز کال په اوړي کې د جرمني ولسمشر هیندنبورګ په هېڅ صورت حاضر نشو هټلر خپل لومړی وزیر کړي. هټلر ویل، ټول واک باید د هغه ګوند ته ورکړل شي، خو هیندنبورګ دې غوښتنې ته حاضر نه و. ورځ تر

بلې د جرمني وضعیت بدترېده او ټول هغه کسان چې هیندنبورګ د لومړیو وزیرانو په توګه وټاکل د وضعیت په کنټرول کې پاتې راغلل.

که څه هم د زاړه هیندنبورګ هټلر نه خوښېده، خو بالاخره سلاکارانو یې هغه اړ کړ، چې هټلر یوازینی شخص دی، چې تر تا وروسته د واک سپارلو وړتیا لري.

د ډېری کسانو لپاره دغه ورځ د خوشالۍ ورځ وه، خو هېڅوک نه پوهېدل په هغوی څه وېره او غم راتلونکی دی. په پارلمان کې د نازیانو یوه استازي هانس فرانک وروسته ولیکل:

خدای پوهېږي، هغه ورځ زموږ زړونه دومره پاک و که به چا موږ ته ویل، چې په تاسو دا او هغه راځي، موږ پرې هېڅ باور نه کاوه او ما خو بیخي باور نه کاوه. هغه ورځ د خوشالۍ او ویاړ ورځ وه.

---

*د هټلر په اړه ډېری ترلاسه شوي معلومات هغه څه دي، چې نوموړي (زما جګړه) کتاب کې پخپله خوښه لیکلي دي. کېدای شي له حقیقت یو څه لرې وي. کله چې هټلر مشهور شو، نو ورځپاڼه لیکونکو او تاریخ لیکونکو یې د خاطرو په راټولولو پیل وکړ. ورځپاڼه لیکونکو او تاریخ لیکونکو په دې معلوماتو پسې ښوونځي، ورځپاڼې، د پوځ اسناد، لیکنې او یادښتونه ټول ولټول او ان خلکو ته یې لیکونه واستول چې د هغه په تړاو معلومات ورسره شریک کړي. هغوی له خلکو وغوښتل چې که له چا سره یې مرکې کړې وي، چاته یې لیکونه استولي وي او چا یې نقاشۍ پېرلې وې د معلوماتو لپاره دې له دوی سره شریک کړي. د هټلر خور پاټولا هم د هغه تر مرګ وروسته یو څه معلومات د امریکا له پوځ سره شریک کړل. تاریخ لیکونکي باید ددې جزیاتو په موندلو پسې لا ډېر وکړځي.*



Scanned by CamScanner

## ۷ څپرکی

# د جرمني دیکتاتور

هټلر لومړی وزیر شو او ډېر ژر یې داسې بدلونونه رامنځته کړل، چې هغه یې په یوه دیکتاتور بدل کړ. لومړی یې د جرمني د قوانینو په چوکاټ کې عمل کاوه. اساسي قانون ولسمشر ته مشخص اضطراري واکونه ورکړي وو. هټلر هیندنبورګ وهڅاوه، چې له دې واکونو استفاده وکړي او پر مطبوعاتو او سیاسي ناستو د هټلر  څارنه زیاته کړي. دا چې د نوې واکمنۍ پر مهال جرمني چندان پرمختګ نه و کړی، نو د هټلر د تدریجي څارنې پر وړاندې ټول چوپ پاتې شول. په لومړیو کې هغوی نه پوهېدل هټلر به تر کومه ځایه ورسېږي، خو هیله من و، چې وبه کولای شي خلک له روانې بدبختۍ وژغورې.

د ۱۹۳۳ ز کال په فبرورۍ کې یوه کس لاسي د پارلمان ودانۍ وسوځوله. هټلر یې «پړه» پر کمونیست ګوند واچوله او امر یې وکړ، چې د ګوند ټول مشران او استازي دې ونیول شي. هغه ۸۵ کلن هیندنبورګ چې په ښکاره یو هېرجن او ګډوډ انسان و، په دې قانع کړ چې د ګډوډیو د مخنیوي لپاره باید ښاریان له ځینو حقونو بې برخې کړي. د جرمني خلکو نور د بیان د ازادۍ او لاریونونو ترسره کولو حق نه درلود.

Scanned by CamScanner



هټلر او هیندنبورګ

تر همدې شرایطو لاندې نازي ګوند د ۱۹۳۳ ز کال د مارچ په سراسري ټاکنو کې ۴۴ سلنه رایې ترلاسه کړې. په همدې وخت کې هټلر هڅه کوله مطلق واک تر لاسه کړي. هغه د اساسي قانون د لغوه کولو لپاره د پارلمان په رایو د یوه بل قانون ـ اختیاري مصوبه ـ په لاس کې درلوده. دې قانون اجازه ورکوله، چې اجراییه قوه لکه د مقننه قوې په څېر د قانون جوړونې حق ولري. دې قانون ته د پارلمان له لوري د رایو ورکولو لپاره د ِاس. آ



ګوند غړو د پارلمان ودانۍ ته څېرمه صفونه جوړ کړل. دا چې د کمونيست ګوند مشران په زندان کې و، نو د پخواني او زاړه سوسيال ديموکرات ګوند له غړو پرته هېچا هم جرئت و نه کړ، چې دې مصوبې ته د رايې ورکولو مخالفت وکړي. خو ددې مصوبې د ناکامولو لپاره ددې ګوند رايې کافي نه وې. دا وخت نو هټلر کولای شول پخپله مخامخ قوانين جوړ کړي.

هغه د لومړي قانون په جوړولو سره کمونيست ګوند او سوسيال ډيموکرات ګوندونه منحل اعلان کړل. ډېر ژر له نازي ګوند پرته نور ټول ګوندونه له منځه يوړل شول. هغه ډېر ژر له نازيانو پرته نور ټول سازمانونه غير قانوني اعلان کړل.

په تدريجي ډول هټلر يو داسې هېواد جوړ کړ، چې کاملاً د هغه تر تسلط لاندې و. د کارګرانو ټولې اتحاديې يې له منځه يوړې او غير نازي ورځپاڼې يې هم وتړلې. د جرمني خلکو کولای شول يوازې هغه موضوعات واوري او ولولي، چې هټلر او د اطلاعاتو وزير يې جوزف ګوبلز له خوا اداره کېدل. د هټلر پټو پوليسو ((ګشتاپو)) د حکومت ټول

مخالفین ونیول. د هټلر د واکنمې پر مهال یوازې تورن کېدل زندان ته د تللو او وژلو لپاره کافي وو. په دې اساس ډېری کسان ونیول شول، ان تر دې پورې چې د جرمني زندانونو نور د بندیانو ګنجایش نه درلود. نازیانو د خپلو مخالفینو لپاره د لویو کمپونو شبکه فعاله کړه، چې د هغوی فرضي دښمنان به ورته استول کېدل. دغه کمپونه ـ د اجباري کارونو ـ پر مرکزونو ونومول شول.

په داسې حال کې چې هټلر سرسختانه حکومت کاوه ترڅنګ یې زیار ایست چې د جرمني د خلکو زړونه هم ترلاسه کړي. هغه هڅه کوله د خلکو لپاره نوي کاري فرصتونه ایجاد کړي. که څه هم په پرمختللي ډول د ټول جرمني د لویو لارو طرحه له وړاندې ترتیب شوې وه، خو ګوبلز رسنیو ته وویل؛ ولیکئ، چې دغه طرحه هټلر جوړه کړې. د جرمني خلکو باور وکړ.

هټلر د دولت له پیسو د هغو سازمانونو ملاتړ کاوه، چې د نازیانو له لوري د متقاعدو افسرانو، ښوونکو او ماشومانو لپاره جوړ شوي وو. د هټلري ځوانانو سازمان یو له دغو سازمانونو و، چې د لسو او اتلسو کلونو ترمنځ ماشومانو او تنکیو ځوانانو یې غړیتوب درلود. ځوانانو او نجونو بېل، بېل سازمانونه درلودل، چې تر ښوونځیو وروسته به یې په کې زده کړې کولې. ځوانانو د ګاردی، لاسي بمونو غورځولو، د کیمیاوي موادو د استعمال پر مهال دفاع، نښه وېشتلو، وسلو استعمال او د نظام لپاره په نورو برخو کې د خدمت کولو زده کړې کولې. نجونو به دا زده کول، چې څه ډول ښې مېندې شي. تېزې منډې ووهي، توپ غورځونه وکولای شي، لامبو ووهي، د ګاردی دوه ساعته تمرین وکولای شي او د خوب بستره ترتیب کړای شي.

Scanned by CamScanner



د هټلري ځوانانو سازمان

هټلر باور درلود، چې د نازي جرمني راتلونکې د همدغو ځوانانو په لاس کې ده. هغه د هټلري ځوانانو سازمان دغه برنامې لکه د ښوونځیو د درسونو هومره مهمې بللې. هغه ویل؛ د ماشومانو زده کړه او جګړې ته د هغوی هڅول باید له هرې ممکنې لارې پراخوالی ومومي. کله به چې ماشومان د هټلري ځوانانو سازمان ته جذبېدل هغوی ته به ویل کېدل:
((تر نن وروسته د هغوی د ژوند واک له رهبر سره دی!))
په دریو کلونو کې د هټلري ځوانانو سازمان غړي پنځه میلیونه کسانو ته ورسېدل، چې د ټول جرمني د ځوانانو شپېته سلنه یې جوړول. په داسې حال کې چې هټلر د اریایي جرمنیانو د ځان بسیاینې لپاره هڅه کوله، همداسې یې د جرمني یهودانو ځورولو لړۍ هم تېزه کړې وه. د ۱۹۳۳ ز کال د اپریل په لومړۍ نېټه نازي حکومت په ټول جرمني کې د یهودانو پر سوداګرۍ بندیز ولګاوه. څو ورځې وروسته په څلور سوه قوانینو

سربېره یو بل قانون هم تصویب شو، چې د جرمني له خلکو یې اساسي حقونه سلبول.

یهودانو دولتي دندې له لاسه ورکړې. د لومړۍ نړیوالې جګړې متقاعدو سرتېرو خپل امتیازات له لاسه ورکړل، یهودي محصلینو په دولتي پوهنتونونو کې د زده کړې حق له لاسه ورکړ او څه وخت وروسته ټولو یهودو زده کوونکو په دولتي ښوونځیو کې د زده کړو حق نه درلود. یهودان د راډیو له لرلو محروم شول او ان کورني حیوانات هم ترې د دولت له لوري واخستل شول. پنځه کاله وروسته د ۵۳۵ زره جرمنیانو له ډلې ۱۵۰ زره یهودانو جرمني پرېښود. پاتې یهودانو هم دومره بدتر ژوند درلود، چې ان ټول مدني حقونه ترې اخستل شوي وو.



د هټلري ځوانانو سازمان ښځینه غړې

Scanned by CamScanner

په داسې حال کې چې د يهودانو ځورونې دوام درلود هټلر د جرمني د پوځي ځواک پر غښتلي کولو تمرکز زيات کړ. دې کار وخت نيوه، خو هغه نه غوښتل ټول څه په تېزۍ ترسره شي او نور هېوادونه پرې پوه شي.
لا هم د وارسا تړون د جرمني لاسونه او پښې تړلې وې. ددې تړون په اساس جرمني د محدود ځمکني او سمندري ځواک لرلو اجازه درلوده.
خو هټلر د ۱۹۳۳ ز کال په اکتوبر کې اعلان وکړ، چې جرمني د ((ملتونو ټولنې)) له سازمان څخه وځي دا هغه نړيوال سازمان و چې له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته منځته راغلی و او بيا ونه توانېد چې د دوهمې نړيوالې جګړې مخه ونيسي او له دوهمې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو سازمان منځته راغی چې تر ډېره همغه د ملتونو ټولنې ته ورته موخې پالي په دې توګه هغه غوښتل وښيي، چې د وارسا تړون پرېکړې نه مني.
د جرمني پوځ ډېر کمزوری و او د فرانسې او د لويې بريتانيا مقابله يې نه شوای کولای. هټلر پرېکړه وکړه، چې په هر ډول وي يو زړور اقدام به کوي. د پوځي افسرانو له خبرداريو سره، سره يې د جرمني پوځ ته امر وکړ، چې راينلاند ـ د جرمني په سويل کې د راين سمندر پر غاړه پرتې سيمې ـ ته داخل شي. د وارسا تړون په اساس جرمني اجازه نه درلوده، چې له فرانسې او بلجيم سره په دې نازکه سرحدي سيمه کې پوځي حضور ولري. خو د ۱۹۳٦ ز کال د مارچ پر نهمه دې سيمې ته د جرمني شاوخوا ۲۵ زره سرتېري ورسېدل، څو ووينې څه پېښېږي؟ که فرانسې بريد کړی وای د جرمني کمزوري به ورته معلومه شوې وای. هټلر پوهېده چې که چېرې دغسې څه پېښ شي (دوه خپلې او دوه پردۍ به کوي) او تښتي به.
خو د باورونو خلاف هېڅ شخړه ونه شوه او جرمني وکولای شول پرته له دې چې يوه مرمۍ هم فير شي، د مارچ پر دولسمه راينلاند بشپړ کنټرول

کې واخلي. نړيوالې ټولنې ايله همدومره وکړل، چې جرمني يې له وارسا تړون څخه په سرغړونې تورن کړ. د هټلر د نقشې برياليي کېدل ددې لامل شول چې په هغه د خلکو باور زيات شي او هغوی ومونده چې همدغه شخص کولای شي د هېواد له لاسه ورکړی شان و شوکت بېرته اعاده کړي.

د هغه کال په اوړي کې برلېن د المپيک لوبو کوربه و او دې کار زمينه برابروله چې ورځ تر بلې د يهودانو ځپلو تېزه لړۍ د نړيوالو له سترګو پټه



شي. خو تر لوبو وروسته د جرمني د يهودانو وضعيت نور هم خطرناک شو. له ځانه د يو يهودي ځوان دفاع کلک غبرګونونه راوپارول. هرشل ګرنيشپان يو اولس کلن پولينډی يهود و، چې په جرمني کې لوی شوی و. هغه د ۱۹۳۸ ز کال د نومبر په اومه يو جرمنی چارواکی په مرمی وويشت. ګرنيشپان په دې په غوسه و، چې جرمنيانو د لس زره نورو

یهودانو ترځنګ د هغه کورنۍ هم له جرمني اېستې وه او پولېنډ ته یې استولې وه. په لومړیو کې پولېنډ دغو یهودانو ته پخپل هېواد کې ځای ورکړ، خو وروسته یې د هغوی پر وړاندې خپلې پولې وتړلې. د ګرنیشپان کورنۍ د نومبر په ساړه ژمي کې د پولې تر څنګ د اجباري کار په کمپ کې مېشتېدنې ته اړ شوې وه. ګرنیشپان پولیسو ته وویل:

((یهودیت جرم نه دی. زه سپی نه یم. زه د ژوند حق لرم او پر دې ځمکه نور یهودان هم د ژوند حق لري. له ما سره هر چېرته د یوه حیوان په توګه چلند شوی دی.))

دوه ورځې وروسته هغه جرمني ټپي چارواکي خپل ژوند له لاسه ورکړ او د هټلر او د هغه د سلاکارانو په اشاره په ټول جرمني کې پر یهودانو بریدونه پیل شول. د اِس. آ غړو د یهودانو سلګونه عبادتځایونه چور کړل او اور یې ورته واچوه. د یهودانو له اوو زرو زیاتې هټۍ چور شوې او د یهودانو زیاتې هدیرې یې ونړولې.

انساني تلفات هم زیات وو. یوازې په ۴۸ ساعتونو کې پولیسو د ۳٦ یهودانو د وژل کېدو او د ۳٦ نورو د ټپي کېدو راپور ورکړ. ډېری نورو یهودانو ځانوژنه وکړه. شاوخوا ۳۰ زره نور یهودان ونیول شول او په زور د اجباري کارونو کمپونو ته واستول شول.

په څو اونیو کې شاوخوا څلور سوه یهودان ووژل شول. په همدې میاشتو کې سلګونه نورو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د ویجاړې او تاوتریخوالي دا شپه د هټیو، لارو او موټرو د ښیښو د ماتېدو له وجې چې لویې لارې یې پوښلې وې، د (کریسټال) پر شپې ونومول شوه. تر دې وېرونکې شپې وروسته زیات شمېر یهودانو جرمني پرېښود. هټلر داسې ښوده، چې دا ټول څه د قهر او غوسې له وجې رامنځته شوي دي، خو په حقیقت کې هغه له وړاندې له دې هر څه خبر و او پخپله یې طرحه کړې وو.

Scanned by CamScanner

په همدې حال کې هټلر د کوچنيو جلا شويو سيمو د بېرته نيولو لړۍ تېزه کړې وه او تل به يې همدا ويل، چې دا به يې د هېواد پراخولو وروستۍ هڅه وي. د اروپا ډېرى رهبران له دې وضعيت څخه راضي نه و، خو مجبور و د هټلر په ژمنو باور وکړي. د نړيوالې جګړې خاطرې لا د خلکو په ياد وې او هغوى نه غوښتل يو وار بيا دغسې لويه جګړه رامنځته شي.

د جرمني د پوځي ځواک د غښتلي کولو تر څنګ هټلر خپل پوځ له اندازې زيات لوى ښوده او نور هېوادونه يې پرې وېرول. هغه به بهرني ميلمانه په پوځي هوايي ډګرونو کې ګرځول او هغه جنګي الوتکې به يې ورته ښودې، چې د بمونو د لېږد وړتيا يې هم لرله. په حقيقت کې به هغه ددې پوځي هوايي ډګر الوتکې هغه بل هوايي ډګر ته لېږدولې، چې په دې توګه د خپلو جنګي الوتکو شمېر ډېر وښيي. په هماغه ډول چې هټلر نور هېوادونه پخپل فرضي پوځي ځواک وېرول، هماغومره يې د پولېنډ پر لوري د خپلو فتوحاتو لمن هم پراخه کړې وه. فرانسې او لويې بريتانيا ژمنه کړې وه، چې پر پولېنډ د بريد پر مهال به ورسره ((دريږي))، خو هټلر پر دوى باور نه درلود، چې پخپلو ژمنو دې عمل وکړي.

د ۱۹۲۹ ز کال په جولاى کې د نړۍ دوه ديکتاتورانو ـ هټلر او د شوروي اتحاد رهبر ژوزوف ستالين ـ يو تړون لاسليک کړ. که څه هم هټلر د کمونست والي په دليل له روسيې نفرت درلود، خو پوهېده چې پر اروپا د بريالي کېدو لپاره له ستالين سره موقتي تړون مهم دى. جرمني غوښتل له دې تړون په استفادې تر هغو چې له سويلي هېوادونو سره په جګړه کې وي د لويديځو هېوادونو په حوزه کې به له روسيې سره په جګړه کې ښکېل نه شي.

ستالين د يوه پټ تړون پر اساس ژمنه وکړه، چې پر پولېنډ د هټلر د بريد

Scanned by CamScanner

پر مهال به ستونزه نه جوړوي. په بدل کې به يې جرمني نيم پولېنډ روسيې ته ور پرېښوده. کله چې دغه تړون لاسليک شو هټلر د پولېنډ د نيولو لپاره راپورته شو. هټلر ډېر ژر پوهېده، چې لويه بريتانيا او فرانسه پخپلو ژمنو عمل کوي او له پولېنډ سره په مرستې د جګړې نوې قرباني ته را دانګي او کنه.



په برلېن کې د جګړو له وجې ويجاړ شوی ورزشي لوبغالی. يو امريکايي سرتېری په لوبغالي کې ليدل کېږي

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۸ څپرکی

# له نړۍ سره جګړه

تر ۱۹۳۹ ز کال پورې د نړۍ سیاستوالو منلې وه، چې هټلر د هغو سیمو په بېرته نیولو بوخت دی، چې د وارسا تړون پر مهال یې له لاسه ورکړې وې. که څه هم د ۱۹۳۹ ز کال د سپټمبر پر لومړۍ نېټه جرمني پر پولېنډ برید وکړ او دغه هڅې یې وپاشل شوې. خو هټلر پرلپسې هڅه کوله د نوې امپراتورۍ بنسټ کېږدي او لویه بریتانیا او فرانسې هڅه کوله له دې هڅو یې را وګرځوي.

دویمه نړیواله جګړه پیل شوه.

د (بلیتنز کریګ) په نوم د جرمني د برېښنا په څېر تېز برید زمینه برابره کړه، چې ډېر ژر پولېنډ تر خپلې ولکې لاندې راولي. د تعجب وړ وه، چې د جرمني پوځ وکولای شول نږدې په یوه میاشت کې ټول پولېنډ ونیسي. هټلر په پولېنډ کې خپله بریا پر ناروې، ډنمارک، بلجیم، لوګزامبورک او هالېنډ هېوادونو په بریدونو سره ونمانځله. د ۱۹۴۰ ز کال په جون کې فرانسه هم د جرمني له لوري ونیول شوه.

په داسې حال کې چې پرلپسې جرمنیانو اروپا لاندې کوله، هټلر کرار پخپل کور کې پروت و. تر ناوختو به ویښ و، فیلمونه یې لیدل او له ملګرو سره به یې ټوکې ټکالې کولې. ډېری وخت به د سهار تر دریو ویښ پاتې کېده او د ماسپښینه به ویده وو.

هغه په نیول شویو هېوادونو کې هم د یهودانو ځپلو ته ادامه ورکړه. له یهودانو غوښتل شوي و، چې پر خپلو کالیو د یهودیت مشخصه نښه داسې

ولري چې ـ د داود ستوري چې په منځ کې یې د یهودي کلمه لیکل شوې وي ـ وګنډي. جرمني پولیسو او سرتېرو په پولېنډ کې یهودانو ته امر وکړ، چې خپل کورونه پرېږدي او (ګتو) سیمې ته وکوچېږي. ددې سیمې په کورونو کې د اوسېدونکو د ګڼې ګوڼې له ځینې ناروغۍ په تېزۍ په پراخېدو وې. زرګونه یهودان چې له وړاندې د کمځواکۍ له وجې کمزوري شوي و خپل ځانونه له لاسه ورکړل.

د یهودانو ژوند په تېزۍ په تاوتریخوالي اوښت. هټلر د اجباري کارونو د کمپونو له شبکو استفاده کوله، څو هغه خلک چې دده په وینا د اریایي نژاد په پرتله پست ترین خلک و پرې ظلم وکړي او هغوی ووژني. هغه لومړی جرمني یهودان، معلولین، کونډه سړیان او بېکاران په نښه کړل. هغه مهال د ټولو هېوادونو یهود



د یهودیت معلومولو نښان

Scanned by CamScanner

ښاریان چې د جرمني له لوري نیول شوي و، په دغو کسانو کې شامل وو. خو هټلر ډېر ژر درک کړه، چې ځینې هېوادونه په دې نه ارزي چې دده امپراتوري پلیته کړي او د هغوی برخه وګرځي. هټلر په دې وخت کې د سویل له لوري له ستونزو سره مخ شو.

کله چې په ۱۹۴۰ ز کال کې فرانسې سقوط وکړ هټلر تمه درلوده، چې لویه بریتانیا به له جرمني سره سوله وکړي، خو لويې بریتانیا سره له دې چې هېڅ ملاتړی هېواد نه درلود، جګړې ته دوام ورکړ.

هټلر داسې پلان جوړ کړی و، چې د سویل له لوري پر لويې بریتانیا برید وکړي. هغه داسې حساب کړی و، چې د بریتانیا هوايي ځواک په وړاندې تر دې چې ځواکونه یې له سمندر څخه تېر شي، سره وپاشل شي. د ۱۹۴۰ ز کال په جنوري کې له بریتانیا سره جګړه پیل شوه. د جرمني هوايي ځواک د بریتانیا پر هوايي ځواک غوره و، خو د بریتانیا د هوايي دفاعي ځواک سیستم قوي و. د جرمني هوايي ځواک رادار سیستم د بریتانیا هوايي ځواک ګواښه، خو بریتانیا ددې بریدونو دفاع ته پوره چمتووالی درلود. هټلر د ۱۹۴۱ ز کال په مې کې پر بریتانیا له هوايي برید څخه لاس واخست، هغه هېڅکله هم ددې وړتیا نه درلوده، چې ځمکنې بریدونه پیل کړي.



هټلر له خپل تور سپي سره

د جون پر ۲۲ جرمني پر شوروي اتحاد د برید پر مهال ستالین له پښو وغورځاوه. هټلر هېڅکله پخوانۍ ژمنې ته ژمن نه و، چې پر دې لوی هېواد به یې برید نه کاوه. هغه د جرمني په منځ کې د خپل هېواد د پراختیا نقشه ایستې وه او د روسیې د ځمکو غله جاتو او نفتي سرچینو ترلاسه کولو ته یې شپې شمېرلې.
هټلر هیله درلوده، چې روسیه به هم لکه د نورو هېوادونو په څېر ډېر ژر سقوط وکړي. خو هغه پخپله له بدو پایلو سره مخ شو. هغه هېواد چې هغه په چل ورسره تړون لاسلیک کړی و دغه وخت ورو، ورو د نازي رژیم پر

وړاندې راپورته کېده. د جرمني پوځ داسې فکر کاوه، چې تر ساړه ژمي وړاندې به روسيه سقوط وکړي او جګړه به پای ته ورسېږي. خو د جګړې د غځېدو له وجې پرې د روسيې سوړ ژمی راغی. د جرمني زرګونه سرتېري د روسيې د ساړه ژمي لپاره د تدارکاتو د نه ترسره کېدو له وجې مړه شول.

هټلر د ايټاليا ديکتاتور ((بنتو موسوليني)) په روسيه کې د جرمني ددې ستونزو لامل باله. ټاکل شوې وه چې پر شوروي اتحاد بريد يوه مياشت وړاندې ترسره شي، خو دا چې اړتيا وه، چې هټلر له يونان سره د ايټاليا د جګړې ستونزه حل کړي، نو دغه بريد يې وځنډوه. دا د هټلر د بريد په نقشه کې نه وو.



هټلر او بيتنو موسوليني، جرمني ۱۹۴۰ جون

هټلر د شوروي اتحاد او انګلستان زور کم بللی و. لا ډېر وخت نه و تېر

Scanned by CamScanner

شوی چې متحده ایالتونو هم سم پلویتوب ونه کړ. تقریباً د ۱۹۴۰ ز کال په ژمي کې یې له جاپان او ایټالیا سره درې اړخیزه تړون لاسلیک کړی و. ددې تړون په اساس درېواړو هېوادونو ژمنه کړې وه، چې پر بل هر هېواد د برید پر مهال به یې ملاتړ کوي. کله چې جاپان په هاوایي جزیره کې پرل هاربر اډه بمبارد کړه، نو د ۱۹۴۱ ز کال د ډسمبر په اومه د امریکا متحده ایالتونه پخپله د جرمني دښمن شو. څلور ورځې وروسته د ۱۹۴۱ ز کال د ډسمبر په یوولسمه جرمني له امریکا متحده ایالتونو سره جګړه اعلان کړه. له امریکا متحده ایالتونو سره د جګړې اعلان له جاپان سره تړون ته په احترام سربېره نور اهداف هم درلودل. هټلر تمه درلوده، چې



جاپان به په دې کار سره تر هغه چې جرمني له شوروي اتحاد سره په جګړه مصروف وي، امریکا بوخته وساتي.

د ۱۹۴۲ ز کال په پسرلي او اوړي کې جرمنیانو له شوروي اتحاد سره جګړه پیل کړه. خو د شوروي اتحاد ځواکونو په زړورتیا دفاع کوله او د روسیې سوړ ژمی یو وار بیا ددې هېواد په ګټه تمام شو. د ۱۹۴۲ ز کال په نومبر

Scanned by CamScanner

کې جرمنيانو معلومات ترلاسه کړل، چې ستالينګراد (اوسنی ولګاګراد) په دام کې کېوتی. د پوځ د قوماندانانو له بار، بار غوښتنو سره قهرجن هټلر ټينګار کاوه، چې پوځ يې بايد تسليم نه شي. هغه باور درلود چې پوځ يې کولای شي ستالينګراد بېرته ونيسي. هغه تېروتی و. شاوخوا ۸۵۰ زره جرمني سرتېري ووژل شول او ۹۱ زره تنه يې بنديان شول.

په ۱۹۴۳ ز کال کې د شوروي ځواکونو پرلپسې په جرمني ځواکونو برلاسي کېدل. روسي ځواکونو په بريالیتوب سره څلور سوه کيلومتره جرمني ځواکونه پر شا وتمبول. هټلر تر دې وړاندې له لويې بريتانيا ماتې خوړلې وه او دا مهال يې له روسي ځواکونو ماتې خوړله، خو لا هم باوري و، چې جرمني ځواکونه به بريالي کېږي. هغه باور درلود چې يوه ورځ به په ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول په امريکا واکمني کوي. هغه په ۱۹۴۳ ز کال کې پخپلو شخصي يادښتونو کې وليکل:

((د بريالیتوب پای به همدا وي، چې په يهوده ټولنه کې د نړۍ په سياست کې د تل لپاره متحده ايالات حذف شي.))

له اروپا او متحده ايالتونو د يهودانو له منځه وړو پروګرام بشپړېدل د هټلر لپاره له شوروي اتحاد ته ماتې ورکولو هومره مهم و. خو په دې منځ کې يو شمېر يهودانو هوډ درلود مقاومت وکړي.



آس. آ ځواکونه

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۹ څپرکی

# د ماتې پر لور

د ۱۹۴۳ ز کال د اپريل په لومړيو کې د پولېنډ د پلازمينې وارسا يهودانو داسې هڅې پيل کړې، چې ټول يهودان د نازيانو پر وړاندې پاڅون ته راپورته کړي. شاوخوا اووه سوه يهود ياغيان په خپل لاس جوړو کړو او غنيمت وسلو سره د جرمني سرتېرو پر وړاندې راپورته شول، چې د هغوی څلور برابره وو. هغوی وتوانېدل څو سوه نفره ووژني او له زرو زياتي جرمنيان ټپيان کړي.

په ۱۹۴۴ ز کال کې هټلر پر جگړې د تمرکز پر ځای د يهودانو قتل عام تېز کړ. له مې تر جولای پورې له پنځو سوو زرو زيات د اتريش يهودان آشويتس مرگنيو کمپونو ته واستول شول او له رسېدو سره سم هلته د گازو په وسيله مسموم کړای شول او له منځه يوړل شول.

هټلر او د هغه ارشد سلاکارانو د ميليونونه يهودو ماشومانو، مېرمنو او خوانانو په وژنې وياړ کاوه. هاينريش هيملر د هټلر د آس. آ ملېشو بې جوړې قوماندان وو. د ۱۹۴۳ ز کال د اکتوبر پر څلورمه اس. آ قوماندانانو ته هيملر پخپله وينا کې ويلي و، چې له يهودانو سره د سر جنگولو مسووليت د هغوی پر غاړه دی، دا ځکه چې معمولي خلک ددې کار توان نه لري. هيملر هغوی ته ويلي وو:

((دلته ستاسو ډېری په دې پوهېږي چې د سل جسدونو ډېری څه معنی. ... کله چې تاسو د زر يا پنځه سوه کسانو د جسدونو قطارونه جوړوئ څه معنی. ... دا زموږ د تاريخ د وياړونو يوه برخه ده.))

Scanned by CamScanner




په اجباري کمپونو کې له لوږې مړه شوي کسان

نازيانو باور درلود، چې عامه وژنه د وياړ وړ يو ښه کار دی. هټلر به د نسل وژنې يا د پلان شويو وژنو لپاره شفاهي امر صادروه او ډېری وخت به يې له رمزونو استفاده کوله لکه ـ د يهودانو د ستونزو حل.

هيملر چې د هټلر ددې اوامرو پر ځای کوونکی و دا حقيقت به يې نه پټوه، چې ددې کارونو تر شا د هټلر لاس دی. د له منځه وړو پروګرام د دولتي چارواکو ترمنځ ښکاره راز و.

د ۱۹۴۴ ز کال په جنوري کې هيملر په پولېنډ کې ۲۵۰ لوړ پوړو جرمني جنرالانو ته وينا وکړه. هغه پخپلو خبرو کې وويل؛ څه ډول ورته هټلر د اروپايي هېوادونو د وژنې دنده وسپارله او ـ د يهودانو موضوع اوس حل شوې ده. اورېدونکو په چکچکو غبرګون وښود.

Scanned by CamScanner



د آسوشویتس اجباري کمپ ښځینه کارګرانې

خو هټلر ته نږدې ټول همکاران یې د هغه له دې نقشې سره همغږي نه وو. ځینو ورو، ورو هغه ته شا کوله. د هغه یو له ملګرو چې له مخالفینو سره یې یو ځای شو کنت کلاوس فون آشتاوفنبرک و. آشتاوفنبرک په لومړیو کې د هټلر ملاتړی و او د اتریش او چکسلواکیا د نیولو موافق و. هغه ان د فرانسې او هالېنډ له نیولو سره هم مخالفت نه درلود. خو وروسته له هغه چې له شوروي اتحاد سره د جګړې پر مهال جرمني سرتېرو ټولې کروندې وسوځولې او ملکیان یې ووژل، نو د هټلر له ملاتړه یې لاس

واخست. هغه مهال آشتاوفنبرک او یوه ډله نور افسران دې پایلې ته ورسېدل، چې له دې کارونو د هټلر منع کولو یوازینی لار د هغه وژل دي.

له هټلره له جلا کېدو یو څه وخت وروسته آشتاوفنبرک له وړاندې پر یو ځای پر ځای شوي ماین وخوت او سخت ټپي شو. هغه خپله یوه سترګه، ښي لاس او د چپ لاس دوه ګوتې له لاسه ورکړې، خو بیا هم ژوندی پاتې شو. څنګه چې د ناروغۍ له بسترې راپورته شو سمدستي یې د (فوهِرر یعنې هټلر) د وژنې توطیه جوړه کړه.

د ۱۹۴۴ ز کال د جولای په شلمه آشتاوفنبرګ هټلر ته د پوځي راپور ورکولو په یوې غونډه کې ګډون وکړ او پخپل لاسي بیک کې ځای پر ځای کړی بم یې د غونډې خونې ته له ځان سره یوړ. په یوه بهانه له خونې ووت او خپل بیک یې هټلر ته نږدې پرېښود. د هغه تر وتو لږ څه وروسته بم وچوېد، خو هټلر سطحي ټپي شو او له بریده روغ ووت. کوم چا دغه لاسي بیک د کنفرانس درانه میز لاندې ټېل وهلی و او د چاودنې پر مهال د ډېرو تلفاتو اوښتو مخه ونیول شوه.

کله چې هټلر پوه شو، چې نور پخپلو پوځي افسرانو باور نه شي کولای، مایوسه شو. د ۱۹۴۴ ز کال په مني کې د هټلر د بې خوبۍ ناروغۍ چې له وړاندې پرې اخته و، زیاته شوه. د ګیډې او سر دردونه یې ددې لامل کېدل چې هغه په ارامه خوب ونه شي کړای. د بې خوبۍ له وجې د هغه حافظه کمزورې شوه. هغه ورځې ولاړې چې یوه سند ته په کتو به یې د هغه ټول جزیات ذهن ته سپارلي و. اوس د عادي نومونو یادول هم د هغه لپاره ستونزمن شوي وو. له دې ناروغۍ د خلاصون لپاره هټلر ډاکترانو ته مخه کړه او هغوی د بې خوبۍ له دې رنځ څخه د خلاصون لپاره هغه ته له کوکائینو استفاده کول تجویز کړل. هغه درمل چې هغه د

معدې درد لپاره خوړل یو څه اندازه یې ستریکنین او آتروپین هم درلودل، چې عملاً یې هغه مسموموه او وضعیت یې ورته ورځ تر بلې خرابوه.

د ۱۹۴۵ ز کال په لومړیو کې د ناروغیو او پوځي ماتو له وجې یې روغتیایي وضعیت ګډوډ شو، خو له دې ټولو سره اوس هم هټلر تمه درلوده، چې ښه به شي. هټلر به ویل: ((زموږ دښمنان د خپل ټول ځواک په راټولولو بوخت دي، څو پر موږ برید ته تیار شي. تر هغو مې چې په بدن کې ساه وي، بایلونکی نه یم.))

هټلر قسم کړی و، چې د ژوند تر پایه به جګړه کوي.

---

له یهودو سوداګرو یو هغه چې له جرمني تښتېدلی و، اوتو فرانک و. هغه په ۱۹۳۴ ز کال کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای د هالېنډ امسټردام ته وتښتېد. هلته یې نوی کاروبار پیل کړ. په ۱۹۴۰ ز کال کې چې جرمني هالېنډ ونیوه. د فرانک کورنۍ هم پټ ژوند پیل کړ. د اتو فرانک دیارلس کلنې لور آنه فرانک د ټولو هغو موضوعاتو په اړه چې شاوخوا یې تېر شوي و، د خاطرو لیکل پیل کړل. د فرانک د کورنۍ غړي په ۱۹۴۴ ز کال کې ونیول شول او د اجباري کارونو کمپ ته واستول شول او آنه په ۱۹۴۵ ز کال کې ومړه. د هغې خاطرې په ۱۹۴۷ ز کال کې خپرې شوې او د نړۍ یو له ډېرو لوستونکو کتابونو شمېرل کېږي. ددې کتاب لومړۍ امریکایي نسخه د (آنه فرانک: د یوې دیارلس کلنې نجلۍ خاطرې) تر عنوان لاندې په ۱۹۵۲ کال کې خپره شوه.

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

## ۱۰ څپرکی

# مرگ یا زندان

هټلر د معجزې په تمه و. هغه تمه درلوده، چې پوهان او د جرمني نوښتگر به يوه داسې قوي وسله جوړه کړای شي، چې د هېواد د جگړې برخليک به د هېواد په گټه بدل کړي. يا ښايي د لويې بريتانيا څواکمن لومړی وزير وينستون چرچيل ومري يا د خپلو خلکو په اړه لېوالتيا له لاسه ورکړي. که چېرې د همغږو هېوادونو دغه رهبر له جگړې لاس اخست احتمالاً جرمني به بريالی شوی وای.
هټلر په برلېن کې په سمڅه کې پخپل پناه ځای کې و او د جگړې د پايلو اورېدو ته په تمه و. هغه په يوې معجزې پورې زړه تړلی و. هټلر پخپل پناه ځای کې د جگړې پايلو ته هک پک و. هغه چې ظاهراً وارخطا او گډوډ و خپلو بيرونيو ځواکونو ته چې نور يې وجود نه درلود، امرونه کول. په دې منځ کې پرې دښمنان له لويديځ او ختيځ څخه برلېن ته په نږدې کېدو وو.
له سويلي لوري يو کال وړاندې د اُورلورد عملياتو پر مهال د فرانسې له لوري لوی يرغل پيل شوی وو. د ۱۹۴۴ ز کال د جولای په شپږمه د همغږو هېوادونو له ۱۵۰ زرو څخه زيات ځواکونه د نوماندي په سواحلو کې پياده شول او په سويلي اروپا کې يې د نازيانو نفوذ مات کړ. په راتلونکو مياشتو کې همغږو هېوادونو د جرمني پر لور د بې ضرره بريد پرمهال د فرانسې او لويديځ بلجيم له لوري لاره لنډه کړه.
بالاخره نور هټلر ته د شک ځای نه و پاتې، چې جرمني روانه جگړه کې

Scanned by CamScanner

ماتې خوړلې ده. هغه پړه پر خپلو قوماندانانو اچوله چې د جګړې په ډګر کې يې ټول کار خراب کړ. هر چا چې به د پر شاتګ غږ پورته کړ، عصباني به شو. ويل به يې: ((پوځ مې له ما سره خيانت کړی. جنرالان مې نور په درد نه خوري.))



تر ځانوژنې وروسته د هيملر جسد

د ۱۹۴۵ ز کال د اپريل په ۲۸ هټلر خبر شو، چې هيملر د تسلمېدو لپاره له همغږو هېوادونو سره په مذاکراتو بوخت دی. هغه دا معلومات په سره سينه ولوستل او ويې ويل، چې هيملر خاين دی. هټلر په تمه و، چې دغه جګړه به په څه ډول پای ته رسېږي. هغه د شوروي اتحاد ځواکونو په لاس د بندي کېدو پر ځای مرګ ته ترجيح ورکوله. پرېکړه يې وکړه، چې ژوندی ونه نيول شي او که اړتيا شوه ځانوژنه به کوي.

تر نيمې شپې وړاندې يې په سمڅه کې په خپل پناه ځي کې د اِوا براون ارمان پوره کړ او له هغې سره يې واده وکړ. هټلر خپله پوځي دريشي

اغوستې وه، خو د هغې تور وريښميني جامې پر تن وې. خو ددې واده عمر ډېر لنډ و.



هټلر او أيوا براون

څه موده وروسته د اپريل پر دېرشمه د ماسپښين په ۳:۳۰ دقيقو هټلر او اِوا براون په سمڅې کې خپلې خونې ته ولاړل. اِوا هلته د زهرو په خوړلو ځانوژنه وکړه. هټلر د زهرو کپسول تر خپلو غاښونو لاندې مات کړل او همماله يې ځان په مرمۍ وويشت.




Scanned by CamScanner

اډولف هټلر ومړ. تر مرګ وړاندې يې خپل وصيت ليک کې د ټولو موضوعاتو جزيات تشريح کړي و، چې د هغه او اوا په جسد دې څه وشي؟ هغه ليکلي وو:

((ميړمن مې او زه د ماتې له شرمه د خلاصون لپاره مرګ غوره بولو. ... زمونږ وصيت دا دی چې زمونږ جسدونه دې سمدستي وسوځول شي.))

بلوبانو يې هڅې پيل کړې، چې وروستی وصيت يې پوره کړي. هغوی د هټلر او اوا جسدونه له خپل پناه ځي تر را اېستو سمدستي وروسته باغ ته يوړل او بنزين تېل يې پرې وپاشل او ويې سوځول.

د اور د لمبو تر خاموشه کېدو وروسته يې د هغوی د جسدونو ايرې راټولې کړې او په يوه کنده کې چې د بمبار له وجې جوړه شوې وه د هغوی ايرې ښخې کړې.



د هټلر د ايرو ښخولو ځای

Scanned by CamScanner

کله چې د ۱۹۴۵ ز کال په مې کې د شوروي اتحاد ځواکونه د هټلر د قوماندې مرکز ته ورسېدل پوه شول، چې هغه ځانوژنه کړې ده. د شوروي اتحاد ځواکونو قوماندان ګئورګي ژوکوف وويل: (( هټلر د مار په څېر مړ شوی. هغه په مرمۍ ځان ويشتی او هغوی يې جسد خاورو ته سپارلی. موږ يې په اور لولپه شوی جسد پيدا کړ.))

هټلر او مېرمن يې يوازيني کسان نه وو، چې ځانوژنه يې وکړه. يو څه موده وړاندې په اپريل کې هټلر خپل د اطلاعاتو وفاداره وزير جوزف ګوبلز او کورنۍ يې احضار کړې وه. د ګوبلز مېرمن ماګدا پوهېده، چې بيا به هېڅکله ونه ګرځي او خپلې خدمتګارې ته يې امر کړی و، چې د کور ټول سامان الات يې ټول کړي. ماګدا خپل تصميم له خپلو شپږو بچيانو پټ کړ.

جوزف ګوبلز له هټلر سره مينه درلوده او د هغه د پلويانو د سرلارې په توګه يې له ځانوژنې هم انکار ونه کړ. ګوبلز او ماګدا پخپل کور کې لومړی خپل شپږ اولادونه مسموم کړل. بله ورځ ګوبلز يوه نازي ته امر وکړ، چې هغه او مېرمن يې په ډزو وولي او هغه کس هم همدا کار وکړ.




د اطلاعاتو وزير جوزوف ګوبلز او مېرمن يې ماګدا له خپلو شپږو اولادونو سره. هيلګا، هيلډګارډ، هيلموټ، هيډويګ، هولډاين او هيډروين، ۱۹۴۲

په اتمه جرمني له کوم قید و شرط پرته تسلیم شو او د ۱۹۴۵ ز کال د مې په اتمه جرمني له کوم قید و شرط پرته تسلیم شو او په اروپا کې دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسېده. د همغږو هېوادونو ځواکونو د هټلر تر مرګ وروسته په اجباري کمپونو کې ټول بندیان ازاد کړل او ټول ویرونکي اعمال چې هټلر او نازیانو ترسره کړي و نړیوالو ته روښانه کړل.

یوازې د داخائو د اجباري کارونو په کمپ کې شاوخوا ۳۲ زره بندیان و، چې لوږې ځپلي وو. د همغږو ځواکونو له لوري ازاد شول. دغو ځواکونو له درې زرو زیات جسدونه هم وموندل. شاوخوا څلور زره بندیان سخت ناروغان و او له دوی دوه زره کسان یې یو څه وخت وروسته مړه شول. کله چې ټول معلومات خپاره شول، نو خلک د اجباري کارونو په کمپونو کې له بندیانو سره د شوي چلند په تړاو لا زیات وپوهېدل.



*په اجباري کمپونو کې مړه شوي کسان*

هټلر په وحشتناک ډول خپل هدف ته، چې د اروپا د یهودانو له منځه وړل و، نږدې شوی و. په دویمه نړیواله جګړه کې د اروپا تقریباً له دریو

دوه برخې يهود ووژل شول.

د نازي جرمني ديکتاتور ومړ، خو د رژيم د ظلم او تباهۍ خاطرې يې تر نن ژوندۍ دي. ډېرې هڅې وکړه د هغو ټپونو درملنه وکړي، چې هټلر رامنځته کړل. يوې بلې ډلې هڅه وکړه تضمين کړي، چې راتلونکي نسلونه به د هغه له دې وېرونکو عملونو خبروي او هېڅوک ته به اجازه ور نه کړي، چې يو وار بيا دغه شان پېښې تکرار شي.



د اجباري کارونو په کمپ کې بندي کوچنيان چې د همغږو هېوادونو د سرتېرو له رسېدو سره هغوی ته خوشالي کوي

هټلر غوښتل د نړۍ ټول يهودان له منځه يوسي. هغه (د يهودانو د ستونزې نهايي حل) تر عنوان لاندې خپله طرحه جوړه کړې وه، چې نن سبا يې هلوکاسټ (ټولوژنه) نوموي. شاوخوا شپږ ميليونه ماشومان، مېرمنې او ځوانان د هټلر ددې طرحې په اساس ووژل شول. پر دې سربېره شاوخوا ۲۵۰ زره کولي، نهه زره همجنسبازان او ډېرې شمېر سياسي رهبران او مذهبيان د هټلر د رژيم پر مهال ووژل شول.

Scanned by CamScanner

په ۱۹۳۰ زېږدیزه لسیزه کې هټلر یوه مشهوره څېره وه. ټایم مجلې په ۱۹۳۸ز کال کې هغه د کال د غوره شخص په نوم یاد کړ. میلیونونه جرمنیانو یې پیروي کوله او میلیونونه نور یې په نړۍ کې مینه وال درلودل. په ۱۹۴۰ لسیزه کې هغه د میلیونونه انسانانو د وژنې مسوول وبلل شو. سره له دې چې میلیونونه جرمنیانو د هغه پیروي کوله، خو بله خوا د ټولوژنې له وجې همدومره نورو خلکو ترې نفرت درلود. هغه د نړۍ د تاریخ یوه پېژندل شوې څېره وه او ده.

# د آدولف هټلر ژوند

## ۱۹۰۰ ز کلونه

۱۸۲۹ ز کال: د اپریل په شلمه د اتریش په براونا ام این کې زېږېدلی.

۱۸۹۶ ز کال: په تاریخ کې په لومړي وار د یونان پلازمېنه اتن کې د المپیک سیالیو ترسره کېدل.

۱۹۰۳ ز کال: په جولای میاشت کې د هټلر پلار (آلویس) ومړ.

۱۹۰۳ ز کال: په موتور لرونکې الوتکه د اوریل او ویلبرایټ ورونو بریالی الوتنه.

۱۹۰۵ ز کال: په شپاړس کلنۍ کې له ښوونځي واېستل شو.

## ۱۹۱۰ ز کلونه

۱۹۰۷ ز کال: په وین کې د ښکلو هنرونو اکاډمۍ ته د نقاشۍ پوهنځي په ازموینه کې ناکامېدل. په ډسمبر میاشت کې یې د مور (کلارا) مړینه.

۱۹۰۸ ز کال: د هنر پوهنتون په ازموینه کې د دویم وار لپاره ردېدل.

Scanned by CamScanner

۱۹۰۹ ز کال: د رنګه پوستکو لرونکو کسانو (NAACP) ملي ټولنې تاسیس.

۱۹۱۰ ز کال: د سړکونو پر سر ژوند، د بې ښځو پناه ځي ته تلل، د پلورلو لپاره نقاشي کول.

۱۹۱۳ ز کال: هنري فورډ له مونتاژ لیک څخه په سټنډرډ ډول د موټرو د تولید لپاره استفاده کوي.

۱۹۱۴ ز کال: د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د جرمني په پوځ کې د خدمت لپاره په داوطلب ډول حاضرېدل.

## ۱۹۱۵ ز کلونه

۱۹۱۶ ز کال: په جرمني کې زیږېدلي فزیکپوه البرټ انشټین د عمومي نسبیت نظریه خپره کړه.

۱۹۲۰ ز کال: د امریکا مېرمنو د رایو ورکولو حق ترلاسه کړ.

۱۹۲۰ ز کال: په مارچ میاشت کې د پوځ پرېښودل، د نازي ګوند په جوړولو کې همکاري.

۱۹۲۱ ز کال: د نازي ګوند د رهبرۍ چوکۍ ترلاسه کولو وړاندیز او د نامحدود واک ترلاسه کول.

۱۹۲۲ ز کال: بریتانوي لرغونپوه هاروارډ کارټر ګورتوت عنخ آمون کشفوي.

۱۹۲۳ ز کال: د جرمني د حکومت نیولو د نقشې ناکامېدل؛ محاکمه کېږي او په زندان محکومېږي.

۱۹۲۳ز کال: د ایرلېنډ کورنۍ جګړه پای ته رسېږي.

۱۹۲۴ ز کال: د (زما جګړه) کتاب د لیکلو پیلول؛ له بنده ازادېدل.

۱۹۲۶ ز کال: د مشهورو امپرسیونیست نقاشانو کلود مونه او ماري ګست مړه کېدل.

Scanned by CamScanner

۱۹۲۹ ز کال: د امریکا متحده ایالتونو د اسهامو بازار سقوط وکړ. اقتصادي رکود د ټولې نړۍ پر اقتصاد منفي اغېز کوي.

## ۱۹۳۵ ز کلونه

۱۹۳۳ ز کال: د جرمني د صدراعظم په توګه ټاکل کېږي.

۱۹۳۹ ز کال: پر پولېنډ د جرمني ځواکونو د برید حکم صادرول، له فرانسې او لوېې بریتانیا سره د جرمني جګړه. د دویمې نړیوالې جګړې پیلېدل.

۱۹۳۹ ز کال: د اسپانیا دیکتاتور فرانسیسکو فرانکو مادرید فتح کوي او په دې توګه د اسپانیا کورنۍ جګړه پای ته رسېږي.

## ۱۹۴۰ ز کلونه

۱۹۴۰ ز کال: د ډنمارک، هالېنډ، بلجیم، لوګزامبورګ، ناروې او فرانسې د نیولو حکم صادرول.

۱۹۴۱ ز کال: د غیر اریایانو د وژنې پیل، پر شوروي اتحاد د برید پیل او د امریکا متحده ایالتونو سره جګړه اعلانول.

۱۹۴۱ ز کال: جاپاني بم غورځونکي د ډسمبر پر اومه په پرل هاربر برید کوي او د امریکا متحده ایالات په دویمه نړیواله جګړه کې شاملېږي.

۱۹۴۲ ز کال: د اجباري کارونو په کمپونو کې د زهري ګازو په وسیله د خلکو وژل.

۱۹۴۲ ز کال: جاپاني تابیعت لرونکي امریکایان د بې وفایۍ په سزا کې د اجباري کارونو کمپونو ته استول کېږي.

۱۹۴۴ ز کال : په جولای کې له یوه بریده روغ وتل.

۱۹۴۴ ز کال: د ډي، ډي پټ نوم په وسیله د اُورلورد عملیاتو پیلېدل،

چې د همغږو هېوادونو شاوخوا ۱۵۵ زره سرتېري په فرانسه کې د نورماندي په سواحلو کې پياده شول.

۱۹۴۵ ز کال: له اِوا براون سره واده؛ په برلين کې پخپل پناه ځي کې د دواړو ځانوژنه.

۱۹۴۵ ز کال: د امريکا متحده ايالات د جاپان په ناګاساکي او هيروشيما اتومي بمونه استعمالوي؛ دويمه نړيواله جګړه پای ته رسېږي.

*د زوکړې نېټه: ۱۸۸۹ ز کال د اپريل شلمه*

*پلار: آلويس هټلر (۱۸۳۷ - ۱۹۰۳)*

*مور: کلارا هټلر (۱۸۶۰ - ۱۹۰۷)*

*خويندې او ورونه: ادموند (۱۸۹۴ - ۱۹۰۰) پائولا (۱۸۹۶ - ۱۹۶۰)*

*مېرمن: اِوا براون (۱۹۱۲ - ۱۹۴۵)*

*د واده نېټه: ۱۹۴۵ د اپريل ۲۸، يوازې دوه ورځې.*

*د مړينې نېټه: ۱۹۴۵ د اپريل ۳۰*

د خښېدو ځای: لومړی يې په برلين کې د هغه جسد وسوځوه او وروسته يې د هغه ايرې په هغه کنده کې واچولې، چې د بم غورځېدو پرمهال جوړ شوی و. بيا يې د دويم ځل لپاره ورته قبر وکينه، هغه يې ترې راوويست، بيا يې وسوځوه او ايرې ورته په هوا کې باد، باد کړې.

Scanned by CamScanner

## لومړی څپرکی

1.Duff Hart- Davis, Hitler's Games: The 1936 Olympics, New York: Harper & Row, 1986, p,47

2. Ibid, p, 177.

3. Ibid.

4.William L. Shirer, Berlin Diary: The Journal of a foreign Corre spondent, 1934-1941, New York: A.A. Knopf, 1941, p.65

## دویم څپرکی

5. Ian Kershaw. Hitler, 1989-1936: Hubris. New York: W.W. Norton, 1989, p.13

6. Adolf Hitler. Mein Kampf. Boston: Houghton Miffin Company, 1971.p.8.

7. Ibid, p.10

8. Ibid.

## دریم څپرکی

9.Ibid, p. 18.

10. Ibid, p, 28.

11. Ibid, p 125.

## څلورم څپرکی

12. Ibid, p. 163.

13. Ibid, p. 161.

14. Werner Jochman (ed). Monologe im Fuher Hauptqartier 1941-1944 (trans. Harlod Marcuse). Hamburg: A. Knaus, 1980, p. 71

Scanned by CamScanner

15. Eberhard Jackel, and Axel Kuhn, Hitler: Samtich Aufzeichmungen 1905-1924 (trans, Harlod Marcuse) . Stuttgart: CVA, 1980, p. 69.

16. Anton Joachimsthaler. Adolf Hitler, 18180-1920: Korrektur einer Biographie (trans, Harlod Marcuse). Munich: Herbig, 1989, p.127

## پنځم څپرکی

17. Mein Kampf, p, 206.

18. Hitler, 1889-1936: Hubris, p, 124

19. John Toland. Adolf Hitler. Volume I. Garden City. N. Y: Double day, 1976, p. 92.

20. Mein Kampf, p. 220

21. Adolf Hitler (toland) Volume I, p, 134.

22. Ibid.

23. Ibid, pp, 134-135.

24. Ibid, p. 166.

25. Ibid,. p. 190

26. Ibid, p. 191.

## شپږم څپرکی

27. Ibid,. p. 210.

28. Joshua Rubenstein. Adolf Hitler. New York: Franklin Watts. 1982, p. 51.

## اووم څپرکی

29. Ian Kershaw. The "Hitler Myth" : Image and Reality in

Scanned by CamScanner

the This Reich. Oxford University Press, 1987, p. 208.
30. Adolf Hitler (Toland) Volume I, p. 408.
31. John Toland. Adolf Hitler. Volume II. Garden City, N.Y: Double day, 1976, pp. 588-589.

## اتم څپرکی

32. Ibid, p. 876.

## نهم څپرکی

33. "Himmler's October 4, 1943, Posen Speech 'Extermination' " The Nizkor Project, 29 Nov. 2005. www.nizkor.org/hweb/people/h/himmler-heinirich/posen/oct-04-43/austrottung-transhl-imt.html.
34. Adolf Hitler (Toland). Volume II, p. 958.

## لسم څپرکی

35. Ibid, p. 983.
36. Ibid,p. 997.
37. Nikita Khrushchev. Khrushchev Remembers. Boston: Little, Brown, 1970, p. 219.

Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner